هرومرو به مي قتل کړي، دوي راته وويل: ته وينې چې اوس عرب او عجم واړه د محمدﷺ اطاعت ته غاړه کيښوده ، د ده دين يې ومانه ، ته اوس لاهم د ده پر دښمنۍ ټينګار کوې؟ تاته په کار ده چې تر هرچا وړاندې د ده تائيد او مرسته وکړې، دوي ډير پردې وهڅولم او بار ، بار يې راته ويل ترڅو زما زړه ته هم د اسلام نور لاره وموندلـه، زه هم سمدستي ولاړ شوم خپل غلام (مذکور) ته مي وويل: ماته يو اوښ او يو آس راتيار کړه لـه ځانـه سره مي زوي (جعفر) هم ملګری کړپـه ګړندي تـګ سره «أبواء» چې د مکې او مدينې ترمينځ يـوه سيمه ده روان شوو ، ځکه ماته خبر رارسيدلی وو ، چې حضرت محمدﷺ په «أبواء» مقام کې ميشت دی، کله چې ور نژدې شوم نو ځان مې نښه نابلده کړ ترڅو مي څوک ونـه پيژني او تـر هغـه وړاندې مې مړ نه کړي چې زه لـه رسول اللهﷺ سره وينم او اسلام اعلانوم.

زه يو ميل وړاندې له خپل آس څخه کوز شوم او پياده د رسول اللهﷺ لورتـه ور روان شوم ، د مسلمانانو ډلې مي ليدلې چې يـو پـه بل پسې زما نښي اړخ تـه تيريدې ، د مکې لورته روانې وې ، ما له دوئ څخه لاره چپوله ځکه ويريدم چې محمدﷺ پـه ملګرو کې مي څوک ونه پيژني او مړ مي نه کړي.

زه همداسي پټ ، پټ ورتلم ترڅو مي رسول الله وليد چې په يوځای کې ولاړ وو ، د ده لورته ورغلم مخ ته يې ودريدم ، مخ مي لوڅ کړ کله چې د رسول اللهﷺ په ما سترګې ډکې شوې زه يې وپيژندلم ؛ نو يې مخ راڅخه واړاوو ، او ماته يې نه کتـل دا کـار څوځلې تکرار شو.

زه چې کله د رسول اللهﷺ حضورته ورتلم ؛ نو دامې باور وو چې رسول الله به زما په اسلام ډير خوشحاله شي او مسلمانان به هم د رسول اللهﷺ د خوښۍ لـه امله ډير خوښ شي، خو کله چې مسلمانانو د رسول اللهﷺ اعراض وليد ؛ نو دوي هم ماته په بده سترګه وکتل او له ماڅخه يې مخونـه واړول، زمـا لـه حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنـه سره ليده کاتـه وشوه ، خو هغه ډير په کلکه اعراض راڅخه وکړ، بيا مي حضرت عمر رضی الله عنـه تـه پـه داسي نظر وکتـل چې د ده زړه مـي نرمـاوه خـو هغـه تـر خپـل ملګري (ابوبکر) ډيـر سـخت اعراض راڅخه وکړ او له دې سره سره يې يو انصاري دې ته وهڅاوه چې هغه راته وويل: ای د خدای ﷻ دښمنه ! ته هغه څوک يې چې رسول اللهﷺ او د هغـه ملګرو تـه بـه دي تکليفونـه رسول او له مشرقه تر مغربه دي د رسول الله په دښمني پسې ټوله ځمکه ترپښو لاندې کړه او

هم داسي يي يوپه بل پسې ماته په لوړ آواز سره ستغې سپوري خبرې کولې ، ټولو مسلمانانو ماته په قهرجن انداز سره سترګې وچې نيولي وې او د هغه انصاري په خبرو چې ماته يي کولې ډير خوشاله کيدل.

په همدې وخت کې ماخپل تره حضرت عباس رضی الله تعالی عنه وليد ، ور وړاندې شوم او ورته ومې ويل: ای تره ! ماهيله درلوده چې رسول اللهﷺ به زما په اسلام خوښ شي، ځکه موږ سره خپلوان يو او زه په خپل قوم کې ښه عزت لرم خو هغه دا دی چې ته يي وينې ، ته زما په اړه له ده سره خبرې وکړه چې له ماځخه راضي شي.

حضرت عباس رضی الله تعالی عنه راته وويل: قسم په خدای ﷻ که هيڅکله هم خبره ورسره وکړم ځکه ما د ده خواشيني وليده چې ستاپه هکله يي څرګنده کړه زه له رسول اللهﷺ څخه ويريږم ، دابه هغه مهال ګورو چې زمنيه مساعده شي.

ماورته وويل: زما هغه خبره ده چې درته ومې کړه .

زه په دې خبره سره ډير غمجن شوم او غمونه راباندې بارشول ، څه ځنډ وروسته مې د خپل تره زوي حضرت علي بن ابي طالب رضی الله عنه وليد له هغه سره مې د ځان په اړه خبره وکړه هغه هم داسي خبره راته وکړه لکه زما تره حضرت عباس رضی الله عنه .

له دې وروسته بيا خپل تره حضرت عباس رضی الله تعالی عنه ته راغلم او ورته ومې ويل؛ ای اکا ! که دې دا له وسه نه وي پوره چې نبي کريمﷺ راڅخه راضي کړې ، دا خو وکړه چې د دې سړي خوله راڅخه بنده کړه چې ښکنځل راته کوي، او خلک زما سپکاوي ته هڅوي.

نوموړي راته وويل: ته يي راوښيه ! ماهم ورته په ګوته کړ، حضرت عباس وويل: داخونعمان بن الحارث النجاري دی، نوموړي ته ورغی او ورته ويي ويل؛ ای نعمانه ! که څه هم رسول الله نن ابوسفيان ته په غصه دی خوبيا هم ابوسفيان د رسول اللهﷺ د تره زوي او زما د ماما د ورور زوي دی ، يوه ورځ به هرو مرو رسول اللهﷺ ورڅخه راضي کيږي ، ده ته بدې خبرې مه کوه .

ښه تر ډيرو حضرت عباس رضی الله عنه نوموړي ته زاری وکړې ترڅو چې يي راضي کړ او ويي ويل: له دې وروسته به ده ته هيڅ هم نه وايم .

کله چې رسول الله ﷺ په جحفه کې واړول ، زه ورغلم د کور په وره کې ورته کیناستم زما زوي جعفر راته ولاړ وو کله چې رسول الله ﷺ له کوره راووت او پر ما یې سترګې ولګیدې مخ یې راڅخه واړاوه ، خو زه بیا هم د ده له خوشحاله کیدو ځخه ناهیلی نه شوم، په هر پړاو کې چې به ده واړول زه به یې د کور په وره کې ورته کښیناستم او زوي به مې راته ولاړ وو ، کله چې به رسول الله ﷺ ولیدم نو مخ به یې راڅخه واړاوه .

زه په همدې غمیزه کې ښه تر ډیرو پاته شوم ، کله چې ځمکه راباندې تنګه شوه ؛ نو خپلې میرمنې ته مې وویل: قسم په خدای ﷻ یا به رسول الله ﷺ له ما ځخه راضي کیږي او یا به زه خپل زوي تر لاس نیسم داسې چول (دښت) ته به ځو چې هلته له لوړې او تندې ځخه دواړه مړه شو ، کله چې دا خبره رسول الله ﷺ ته ورسیده ؛ نو زړه یې نرم شو ، کله چې له خیمې را ووت ؛ نو ماته یې تر پخوا په نرم نظر وکتل زما امید پیدا شو چې کیدای شي رسول الله ﷺ به راته وخاندي.

کله چې رسول الله ﷺ مکې ته داخلیده ؛ نو زه هم ورسره مل وم ، مکې ته له رسیدو سره سم رسول الله ﷺ مسجد حرم ته ولاړ زه هم ورسره شوم ، تر ده مخته مې منډې وهلې او په هرحال کې به ورسره مل وم.

کله چې د حنین ورځ را ورسیده ، ټول عرب په دې هیله سره راغونډ شول چې د اسلام او مسلمانانو ریښې به باسي دوي دومره زیات شمیر او په وسلو هم ښه سمبال راغونډ شوي وو ، چې تر دې وړاندې یې ساری نه لیدل کیدی ، رسول الله ﷺ هم له خپلو ملګرو سره د دوي سیالي ته ور ووت زه هم ورسره وم، کله چې مې د مشرکینو دومره زیات شمیر او ښه تیاری ولیده له ځانه سره مې وویل: قسم په لوي خدای ﷻ نن به داسې میړانه ښکاره کوم چې زما د تیرو کړو ، وړو او له رسول الله ﷺ سره د بدی او دښمنۍ پوره بدله شي، رسول الله ﷺ به زما داسې کارنامې وینې چې الله ﷻ او دی به دواړه وربانديې راضي کیږي.

کله چې نښته پیل شوه د مشرکانو برید مسلمانان کمزوري کړل ، په مسلمانانو کې د ماتې نښې څرګندې شوې ، خلک د رسول الله ﷺ له خوا وشاځخه په تیښته شول نژدې وو ، چې مور شرمو ونکې ماته وخورو.

په همدې وخت کې رسول اللهﷺ د جګړې په مینځ کې پرخپله سپرلۍ لکه غر داسې محکم ولاړ وو، توره يې له تيکې ايستلې، له ځانه او هغو خلکو څخه چې د ده خوا وشا وو، لکه زمری داسې په میړانه دفاع کوله، په همدې وخت کې ما له آسه ټوپ کړ، د توري تيکی مي مات کړ، خداي ﷻ خبر دی چې زما د رسول اللهﷺ په وړاندې د مرګ اراده وه.

زما تره حضرت عباس رضی الله عنه د نبي کريمﷺ څنګ ته ولاړ وو، او د ده د سپرلۍ واګې يې نيولې وې، زه يې هم بل اړخ ته ودرېدم په ښي لاس کې مي توره وه، له رسول اللهﷺ څخه مي دفاع کوله او کينې لاس مي د نبي کريمﷺ په رکاب پورې نيولی وو، کله چې رسول الله زما ښه برید کول ولید ؛ نو خپل تره حضرت عباس ته يې وويل: داڅوک دی؟ نومورې ورته وويل: داستا ورور او د تره زوی ابوسفيان بن الحارث دی، ای رسول اللهﷺ له ده څخه راضي شه، رسول اللهﷺ وويل: مابخښلی دی، لوی خداي ﷻ دي ده ته هغه ټولې د ښمنۍ معاف کړې چې له ماسره يې کړې دي، کله چې رسول اللهﷺ له ماڅخه راضي شو ؛ نو نژدې وو، چې زړه مي له ډير خوښۍ والوزي، ما د رسول اللهﷺ پښه په رکاب کې مچ کړه، رسول اللهﷺ راته وکتل او راته ويې ويل: ای وروره ! قسم دی بخښلی مي يې ور وړاندې شه او وهه يې، د رسول الله خبرو زما غيرت را وپاراوه، ماهم پرمشرکانو داسې برید وکړ چې له ځايونو څخه مي بې ځايه کړل، له ماسره يوځای مسلمانانو هم برید پيل کړ، يو فرسخ مو ليرې وشړل او هر لور ته مو په تيښته کړل.

د حنين له ورځې را په دې خوا ابوسفيان بن الحارث رضی الله عنه ته د رسول اللهﷺ د خوښۍ سعادت ورپه برخه او د ده د ملګرتيا ویاړ يې ترلاسه کړ، خو له بده مرغه هيڅکله يې هم د نبي کريمﷺ مخ ته پورته نشو کتلای او له خپلو تيرو کړو څخه شرميدی.

ابوسفيان به تل د پښيمانۍ ګوتې چيچلې او پردې به يې ډير افسوس کاوه چې څومره تکې توري شپې يې په جاهليت کې د خداي ﷻ له نور او قرآن څخه ليرې تيرې کړې، له دې وروسته به يې شپه او ورځ د قرآن په تلاوت او د هغه د احکامو په زده کړه تيروله، سينه به يې له قرآني نوره ډکوله، د دنيا له خوندونو او رنګينيو څخه يې مخ واړاوه او خپل هر غړی يې د خداي ﷻ په عبادت کې مصروف ساته، آن چې رسول اللهﷺ

نومورې يو ورځ وليد چې مسجد ته ننووت ؛ نو حضرت عائشې رضی الله تعالی عنها ته يې ويل ؛ آيا عائشې پوهيږې دا څوک دی؟

دې وويل: نه ؛ يا رسول اللهﷺ

حضرت اقدسﷺ ورته وويل: دا زما د تره زوي ابوسفيان بن الحارث رضی الله تعالی عنه دی ، ته ورته وګوره ترهرچا وړاندي مسجد ته راځي او تر ټولو آخر وځي او تل خپلو پښو ته ګوري.

کله چې رسول اللهﷺ له دې دنيا څخه رحلت وکړ ؛ نو حضرت ابوسفيان بن الحارث رضی الله عنه داسي غم وربانديو کړ لکه د مور پر خپل زوي، دومره يي وربانديو وژړل لکه يو دوست چې پر بل دوست ژاړي او د نوموړي په مرثيه کي يي داسي قصيده وويله چې په اوريدو سره يي د هرچا ترسترګو اوښکي بهيږي او د خلکو زړونه له ډيره غمه ويلي کوي.



د حضرت فاروق رضی الله عنه د خلافت په دوره کي حضرت ابوسفيان رضی الله عنه د خپل ځان په مرګ پوه شو ، په خپلو لاسو يي ځان ته قبر جوړ کړ، درې ورځې له قبرجوړولو وروسته يي د اجل بلونکي ته هرکلی ووايه ، داسي برېښيده لکه له مرګه سره چې يي وعده کړې وه، کله چې مړکيده ؛ نو خپلې ميرمنې ، اولاد او د کورنۍ غړو ته يي وکتل او ورته ويي ويل: پر ما به نه ژاړئ ، قسم په خداي ﷻ له کومه وخت چې ما ايمان راوړی دی که مي يوه ګناه هم کړې وي... له دې خبرو سره يي روح والوت.

نوموړی ته لمونځ حضرت عمرفاروق رضی الله عنه ورکړ او د ده په بيلتون په خپله عمرفاروق، او نور اصحاب ډير خفه شول، د ده مړينه يي د اسلام لپاره يوه ستره ضائعه وبلله ، روح دي يي ښاد وي.

له صور من حياة الصحابه نومي کتاب څخه

هغه خلک چې دیر غلګروسره ولاړدي دهغوئ سره ددوستۍ ، تعلقاتو اوهمدردۍ حکم .

(له داخلي منافقانو سره دموالات ،مدارات، اومواسات په اړه)

الاستفتاء : زمورږ څه خپلوان اودوستان دافغانستان په اوسنۍ اداره کې ګډ دي اوحکومتي وظائف لري زمورږ راشه درشه ، ناسته ولاړه اونور تعلقات له دوئ سره شرعا څرنګه دي يعني روادي اوکنه ؟

اوپه دې مسئله کې مورږ يواځې نه بلکه ډير خلک راګير دي دمهربانۍ له مخي مورږ ته په دې اړه پوره ديني معلومات راکړئ . المستفي مولوي معراج الدين

الجواب حامدا ومصليا وبعد : په مذکوره صورت کې چې دحربيانو کوم حکم دی هغه دهمدغه يرغلګرو ددوستانو هم دی نولکه له يرغلګرو سره چې موالات يعني محبت اودوستي منعه ده همداسي يې له دوستانو سره هم منعه ده ، همدارازلکه له يرغلګرو سره چې مدارات [ناسته ولاړه ،ښه چال چلند]ممنوع دی په استثناء دخوصورتونو ، همدارازيې ددوستانوسره هم ممنوع ده.

همدارازهغوئ سره مواسات [هغوئ ته مالي نفع رسول اونور] ناجائز اوحرام ګڼل کيږي .

في احکام القرآن للعثماني رح ۱۵\۲ في بيان القرآن ان المعاملة مع الکفار علی ثلاثة انحاء احدها الموالات ای الموادة ، الثاني المداراة ای اظهار حسن الخلق لهم والثالث المواساة ای ايصال النفع اليهم باعطاء المال .

اماالموالاة فلاتجوز بحال وهی المنهی عنها بقوله تعالی يا ايها الذين آمنوا لاتتخذوا اليهود والنصاری اولياء بعضهم اولياء بعض ومن يتولهم منکم فانه منهم الآية

المائدة ۵۱ وبقوله تعالى يا ايها الذين آمنوا لاتتخذوا عدوي وعدوكم اولياء. سورة الممتحنة ، اما المداراة فتجوز في ثلاثة مواضع ، الاول لدفع الضرر ، والثاني لمصلحة الكافر في دينه اى اذا رجى هدايته للاسلام بالمداراة ، والثالث لاكرامه اذا كان ضيفا ولاتجوز لمصلحة نفسه من جلب المال ونحوه ، الى قوله ، هذا هو حكم المداراة مع الفساق واهل الهواء ونحوهم .

وفي مجموعة الفتاوى ۳۲۷\۴ سوال چهار پنج اشخاص كه درسركار نصارى باعزت ووقار هستند وايشان قانوني مخالف شرع تيار كرده اند انچنين قانون راقبول كردن اهل اسلام را درست است يانه ، مردماني كه اين قانون تيار كرده كافر گشتند يانه ، واهل اسلام درمجالس شادي وغمي ايشان كه بخانه هاى ايشان شوند شريک شوند يانه... وبرجنازه ايشان نماز خوانده شود يانه ؟

الجواب هو المصوب . حق جل شانه دركلام پاک خود ارشاد فرمايد . وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ(44) المائده وقوله تعالى : وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ (45) المائده وقوله تعالى: وَمَنْ لَمْ يَحْكُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ(47) المائده

..... پس قبول كردن انچنين قانون كه مخالف شرع باشد براهل اسلام حرام است وآنكه موافق آن قانون عمل خواهد كرد گناه او برگردن مقنن خواهد بود ،

الى قوله .. واگر ايجاد كننده گان قانون اگر قانون شرعي رابد فهميدند وبآن راضي نشده اند وآن راخلاف مصلحت وغيركافي تصور كردن انها كافر شدند برجنازه ايشان نماز گذاردن ودرمسجد ومقبره ايشان را شريک داشتن ودعوت ايشان كردن يادردعوت ايشان رفتن ودرشادي وغمي ايشان شريک شدن اهل اسلام رادرست نيست واگر ايشان قانون شريعت رابد نه فهميدند پس اگر چه كافر نشده اند مگر فاسق اعلى درجه شدن اهل اسلام رابايد كه مجالست ايشان موقوف كنند ودرمجالس شادي وغمي ايشان شركت نكنند تاايشان ازين فعل توبه كنند .

في التاتارخانيه ۲۲۲\۵. اما البلاد التي في ايديهم فلاشک انها بلاد الاسلام الى قوله.. ومن قال منهم انا مسلم اويشهد بالكلميتن يحكم باسلامه ومن وافقهم من المسلمين فهو فاسق غيرمرتد ولاكافر. الخ

دافغانستان دموجوده اداري په اړه

۱= الاستفتاء: دافغانستان دموجوده حكومت څه حكم ده ؟ يعني مرتدين محاربه دي اوكنه ؟ المستفتي حاجي شريف الجواب حامدا ومصليا: وبعد په دغه موجوده حكومت كې

دګډو خلکو حکم دلویو فاسقانو ده ، مرتد نه ورته ویل کیږي ، التبه هغه خلک چې د اسلام له دین څخه وتلي او د کفارو دین یې منلی یا د هغوئ مکمله اتباع کوي نو بیا هغه مرتد ین دي.

في التاتارخانیه ۵\۲۲۲ فصل في الاحکام التی تتعلق ببلاد الکفار ؛ قال الامام الاجل هذه البلیة واقعة في زماننا فلابد فیها من تعرف الاحکام اما البلاد التي في ایدیهم فلاشک انها بلاد الاسلام لابلاد الحرب لانها غیرمتاخمة لبلاد الحرب ولانهم لم یظهروا فیها حکم الکفر بل القضاة مسلمون ومن قال منهم انامسلم اویشهد بالکلمیتن یحکم باسلامه ومن وافقهم من المسلمین فهوفاسق غیرمرتد ولاکافر وتسمیتهم مرتدین من اکبرالکبائر >

ومثله في الدرالمختار ۴\۳۴۲ وطبع اخری ۸\ کتاب القضاء مطلب دعی ابوحنیفة رض الی قضاء ثلاث مرات ، وموضع آخر ۲\۲۷۷ وطبع اخری ۳ \ مطلب فیما تصیر دارالحرب دارالاسلام وبالعکس ومثله في اعلاء السنن ۱۲\\۵۱۱ والفتاوی الملتقط ۲۵۵ ،

او په فتاوی کاملیه ص\۲۵۱ کې دي خلکو ته دزندیقانو اومرتدانو حکم ورکړل شوی ده ،، فتاوی حقانیه اوفتاوی فریدیه هم دکاملیه اتباع کړی ده،

اوداچې د دغه خلکو مرګ روادی دابیله موضوع ده اوهغه په هغه نصوصو بناء ده چې لوی خدای جل جلاله دغه ډول خلک دهماغه یرغلګرو په څېر مباح الدم ګڼلي دي. قال الله تعالی: یاایها الذین آمنوا لاتتخذوا الیهود والنصاری اولیاء بعضهم اولیاء بعض ومن یتولهم منکم فانه منهم الآیة المائدة ۵۱ اوداسې نور ..

په یرغلګرو اوملګرو یې دخوراک اوڅښاک اونور څیزونه پلورل

الاستفتاء: محترم مفتي صاحب زمونږ دتره زامن دي دامریکایانو قرارګاوته په خپلو ټکټرانوکې اوبه وروړي ، ځیني نورکلیوال موبیا هلته دوکان لري اودخوراک توکي په یرغلګرو پلوري ، ځیني خلک بیا له یرغلګروڅخه څه سامانونه اخلي ، لنډه داچې ډیری افغانان په دغه ډول کارونولګیادي اوخپله روزي ګټي نو شرعا داڅرنګه ده ؟

الجواب حامدا ومصلیا وبعد: په اوس وخت کې چې امریکایانو اوپلویانو یې په افغانستان یرغل کړی دی نوپه دغه کفارو اوملګرو یې هرډول څیزونه پلورل اوله هغوئ اخستل حرام اوناجائز دي ،نورکه دخوراک توکي وي یا نور .. اودغه مسلمان چې له دي لاري کومه نفقه حاصلوي هغه حرامه ده ، اوداهرڅه دیرغلګرو مرسته ګڼله کیږي.

في البدائع ۱۵۷\۷ (فصل): وأما بيان ما يكره حمله إلى دار الحرب ، وما لا يكره ، فنقول: ليس للتاجر أن يحمل إلى دار الحرب ما يستعين به أهل الحرب على الحرب من الأسلحة ، والخيل ، والرقيق من أهل الذمة ، وكل ما يستعان به في الحرب ؛ لأن فيه إمدادهم ، وإعانتهم على حرب المسلمين قال الله - سبحانه وتعالى {ولا تعاونوا على الإثم والعدوان} فلا يمكن من الحمل وكذا الحربي إذا دخل دار الإسلام لا يمكن من أن يشتري السلاح ، الى قوله ....

لأنهم يستخفون بالمسلمين ، ويدعونهم إلى ما هم عليه ، فكان الكف والإمساك عن الدخول من باب صيانة النفس عن الهوان ، والدين عن الزوال ، فكان أولى.

وفي المحيط البرهاني: ۲۳۷\۷ وذكر محمد رح انه يكره بيع جميع الاشياء في ذلك على السواء يريد به انه كما يكره بيع الكراع والسلاح من المحصورين يكره بيع الطعام والشراب والثياب وغير ذلك الخ

وفي البحر: ۱۱۲\ ولأن فيه تقويتهم على قتال المسلمين فيمنع من ذلك وصرح الشارح بحرمته أراد من السلاح ما يكون سببا لتقويتهم على الحرب فدخل الكراع ، والحديد ؛ لأنه أصل السلاح وهو ظاهر الرواية ، والكراع الخيل ودخل الرقيق ؛ لأنهم يتوالدون عندهم فيعودون حربا علينا مسلما كان الرقيق أو كافرا وخرج الطعام والقماش ، والقياس المنع إلا أنا عرفناه بالنص ؛ لأنه عليه السلام أمر ثمامة أن يمير أهل مكة الخ

زمور دمذهب په ټولو کتابونو کې دارالحرب ته دسلاح اوجنګي وسایلو دوړلو اوپلورلو دمنعي دليل دهغوئ تقويه ګڼلې ده دمسلمانانو خلاف. اوپه هغه سيمه کې چې يرغلګر خپله يو اسلامي ملک لانډي کړي وي نو هلته دهرشي حکم لکه دسلاح داسي دی ځکه چې همدغه علت په کې موجود ديږي اويرغلګر په همدغه اسبابو سره بقاء اوژوندا وبياد مجاهدينو خلاف مقاومت کوي لهذا په دغه وخت کې دهرشی په پلورلو اورانيولو سره دير غلګرو معاونين ګڼل کيږي .

همدا راز چې زمور دفقهي په کتابونو کې دطعام اوشرابو کومه استثناء ذکر شوي ده هغه يوائې دارالحرب ته دوړلو په صورت کې ده چې نفع يې مسلمانانو ته دی نه اهل دارالحرب ته . اوهمدا حکم يې دير غلګرو دمعاونينو هم دی. ځکه فرع يې داصل په حکم کې دی. او الله تعالى دير غلګرو معاونين دهمدغه يرغلګرو په حکم کې ګڼلي. ومن يتولهم منكم فانه منهم الآية المائدة ۵۱

وفي روح المعاني ۹۲\۱۵ بِمَا أَنْعَمْتَ عَلَيَّ فَلَنْ أَكُونَ ظَهِيراً لِلْمُجْرِمِينَ} القصص ۱۷ ، وأخرج ابن أبي حاتم عن أبي حنظلة جابر بن حنظلة الضبي الكاتب قال: قال رجل لعامر يا أبا عمرو إني رجل

كاتب أكتب ما يدخل وما يخرج آخذ رزقاً أستغني به أنا وعيالي قال: فلعلک تکتب في دم يسفک قال: لا. قال: فلعلک تکتب في مال يؤخذ قال: لا. قال: فلعلک تکتب في دار تهدم قال: لا. قال: أسمعت بما قال موسى عليه السلام: {رَبِّ بِمَا أَنْعَمْتَ عَلَيَّ فَلَنْ أَكُونَ ظَهِيراً لِلْمُجْرِمِينَ} قال: أبلغت إلى أيا أبا عمرو والله عز وجل لا أخط لهم بقلم أبداً قال والله تعالى لا يدعک الله سبحانه بغير رزق أبداً. وقد كان السلف يجتنبون كل الاجتناب عن خدمتهم. أخرج عبد بن حميد وابن المنذر عن سلمة بن نبيط قال بعث عبد الرحم بن مسلم إلى الضحاک فقال: اذهب بعطاء أهل بخارى فأعطهم فقال أعفني فلم يزل يستعفيه حتى أعفاه فقال له بعض أصحابه: ما عليک أن تذهب فتعطيهم وأنت لا ترزؤهم شيئاً فقال لا أحب أن أعين الظلمة في شيء من أمرهم وإذا صح حديث ينادي مناد يوم القيامة أين الظلمة وأشباه الظلمة وأعوان الظلمة حتى من لاق لهم دواة أو برى لهم قلماً فيجمعون في تابوت من حديد فيرمى بهم في جهنم فليبک من علم أنه من أعوانهم على نفسه وليقلع عما هو عليه قبل حلول رمسه، ومما يقصم الظهر ما روي عن بعض الأكابر أن خياطاً سأله فقال: أنا ممن يخيط للظلمة فهل أعد من أعوانهم؟ فقال: لا. أنت منهم والذي يبيعک الإبرة من أعوانهم فلا حول ولا قوة إلا بالله تعالى العلي العظيم، ويا حسرتا على من باع دينه بدنياه واشترى رضا الظلمة بغضب مولاه. هذا وقد بلغ السيل الزبى وجرى الوادي فطم على القرى

دګمرک پيسي مجاهدينو ته په لاس ورشي نو..

الاستفتاء: : داوسنی افغانستان دګمرک کوم مامور يا نقدي معتمد که دګمرک څخه يانورو پيسو څخه څه پيسې مجاهدينو ته راوړي او يا دا دګمرک مامور هره مياشت له مجاهدينو سره دګمرک له پيسو نه کومک کوي آيا مجاهدينو ته ددې پيسو اخستل جايز دي که نه ؟اوداکه مجاهدين واخلي مصرفول يې ورته څنګه دي ؟المستفتي: مولوي حبيب الجواب حامدا ومصليا وبعد:

په ذکرشوی صورت کې که دغه مامور يامعتمد څه پيسې مجاهدينو ته ورکوي نوصحيح دي، خودغه پيسې به مجاهدين بيت المال ته جمع کوي، اوکه اميروغواړي چې بيرته همدغه پيسې له بيت المال څخه مجاهدينو ته ورکړي نوبيايې مجاهدين دجهاد ياهم خپلو شخصي امورو کي مصرف کولی شي.

في المبسوط باب صلح الملوک و الموادعة. ١٢\ ٢٠٢ فَمَنْ أَخَذَهُ بَعْدَ ذَلِکَ، فَإِنَّمَا اسْتَوْلَى عَلَى مَا ثَبَتَ فِيهِ حَقُّ الْمُسْلِمِينَ فَلَا يَخْتَصُّ بِهِ، كَمَا إذَا اسْتَوْلَى عَلَى مَالِ بَيْتِ الْمَالِ

ذبیح الله مجاهد

څو شیبې له خپل ولس سره

پوښتنه ـ محترم مجاهد صاحب ! السلام علیکم ورحمت الله و بر کاته

هیله ده چی روغ او رمټ ووسي .او د لوی خدای (جل جلاله) نه ستاسو دلا بریالتوب او کامیابي غوښتنه کوم ډیر وخت کیږي چې په زړه کې مې تشویش او غم دی نه پوهیږم چې ولې؟ مګر کیدلی شي چې دغه غم او تشویش تا سو زما نه لرې کړئ؟ هغه داچې ځینې پوښتنې دي چې زما په سر کې ګرځي ،زما پوښتنې د امارت اسلامی د رهبري شورا په هکله دي او هیله ده چې ځوابونه یې راکړئ ،پوښتنې په لاندې ډول دي : ملاآغا جان معتصم په حواله

۱.آیا دا خبرې او ګونګوسې ریښتیا دي چې ګنې طالبان دوه ډلګۍ دي چې ځینې سوله غواړي او ځینې نه؟

۲.ولی ملا معتصم صاحب په ګولیو وویشتل شو سره د دې چې امارت ته یې زیات خدمت کړی وه آیا ستاسو له خوا دا کار صورت نیولی وه؟ او څرنګه د امارت نه جدا شو؟

۳.پاکستان ولې استاد یاسر (رحمه الله) ترور کړ او تاسوغبر ګون ونه ښود؟ په درنښت ـ ملتیار

ځواب ـ وعلیکم السلام!

وروره تاسو ته چې کوم تشویش ایجاد شوی هغه سم ندی هیله کوم چې خپل تشویش زما په ځواب رفع کړئ ، اول خو طالبان کله هم دوه ډلګۍ نه دي بلکې دیو امیر تر قیادت لاندې په یو صف کې منظم جهاد په مخ وړي او څوک چې په دې اړه څه وایي هغه ټول ددښمنانو پوچ او دحقیقته لري غولونکې تبلیغات دي ،هیڅوک باید دې تبلیغاتو ته غوږ ونه نیسي او همدا راز محترم ملا آغاجان معتصم هم په یوه نامعلومه پیښه کې زخمي شوي وو چې عاملین یي نه دي معلوم او ده په خپله هم په دې اړه دغسې څر ګندونې کړې دي ،اوس لپاره دځینومشکلاتو له وجهې چې شخصي ژوند کې ورته پیښ شوي وو په ترکیه کې اوسیږي او تر علاج لاندي دی ، هغه کله هم نه دي ویلي چې له طالبانو جلادی ، .په دې

وروستیو کې چې دهغه لخواکومې مرکې شوې وې هغه هم تحریف شوې وې ،چې دهغه لخوابیرته رد شوې او له بي بي سي سره یې په واضحو ټکو کې وویل چې زما خبرې رسنیو تحریف کړې دي، زه په کراچۍ کې په هغه شپه زخمي شوم چې په ټوله کراچۍ کې ددووډلو تر منځ ننښتې روانې وې ، یوه عامه بې امني را منځ ته شوې وه او ډیر کسان پکې مړه او ژوبل شول ماته هم په دې ګډوډۍ کې تکلیف پیښ شو، نه دکوم مشخص لوري لخوا . داستاد یاسر (فک الله اسره)په اړه باید وو ایو چې مورږ ته تراوسه پورې داسې یقني معلومات لاس ته نه دي راغلي چې معلومه کړو چې استاد په ریښتیا هم په شهادت رسیدلی وي ، خو تاسو به اوریدلي وي چې اسلامي امارت دپاکستان له هیواده رسما وغوښتل چې داستاد دژوند په اړه توضحات ورکړي چې تراوسه پورې مورږ ته بیرته ځواب لاس ته نه ده راغلی .

پوښتنه ــ السلام علیکم مجاهد صاحب تاسو ته او ټولو مجاهدینو ته ! وروسته له سلامه ، محترمه که د تلیفوني شبکو په هکله معلومات راکړئ تاسو ته څومره فایده لري چې بندې وي ؟ والسلام به احترام ستاسو د کامیابې په هیله – م س د

ځواب ـ وعلیکم السلام ! تلیفوني شبکې خو په عادي حالاتو کې دټولو هیوادوالولپاره او هم زمورږ لپاره ګټور پ دي ،خو کله که بیا دغه شبکې بهرنیو ځواکونو ته دجاسوسي دنده پرمخ وړل پیل کړي بیانو دا زمورږ دهیوادوالو دشهادت ، ځورولو ،بندي کولو او په عامو کورونو دچاپې اچونو سبب ګرځي ،چې په دې صورت کې بیا تلفوني شبکې زمورږ دټولو هیوادوالو لپاره لوی ګواښ دي ،دبیلګې په توګه که تاسو دهلمند ولایت ته ورشئ او پوښتنه وکړئ چې دتلیفون په ذریعه داشغال ګرو لخوا څومره چاپې وهل شوي اودملکي خلکو او مجاهدینو شهادتونه رامینځ ته شوي؟ تاسو به خپله قضاوت وکړئ چې تلیفون څومره ددښمن دناوړې استفادې آله ګرځیدلې او له دې ناحیې څومره خلک شهیدان شوي او کورنۍ دغم او ویر په ټغر کیښنول شوې دي ،خو بیاهم مورږ غوښتنه کوو چې زمورږ مخابراتي شبکې چې دخصوصي سکتور پورې اړه لري ، هغه دکورنیو او بهرنیو استخباراتي ارګانونو لپاره د جاسوسانو رول ادا نکړي او که احیانا کومه شبکه وپیژنل شي چې استخباراتي دستګاوو ته معلومات ورکوي بیابه مورږ هم دعکس العمل په دود اړیو چې په لا نورمناسب اقدام لاس پورې کړو. مننه

پوښتنه ــ محترم مجاهد صیب سلامونه او نیکې هیلې مې ومنئ !

نن سبا په میډیا کښې دا خبرې خپریږي چې طالبانو خپل ۲۵ تنه غړي یا ملګري د پاکستان د ځارګرې اداري په همکارۍ وژلي دي او په دوئ کښې ښاغلی استاد محمد یاسر هم دی چې شهید کړی شوی دی ، په دې باره کښې که معلومات راکړئ . په درنښت ستاسو د بریاو په هیله محمد ابراهیم

ځواب ـ وعليکم السلام ! څرنګه چې تاسو پوهيږې يوشمير مطبوعات او دميډيا نشراتي اداړې هڅه کوي د مجاهدينو په ضد او ديرغل په پلوی خپرونې ولري او داچې دوی به ممکن خاصې موخې او ګټې لري ، نو ځکه يې د۲۵ کسانو دوژلو خبره وکړه او تش په دروغو آوازه يې په شد اومد سره خپره کړه ، د ۲۵ کسانو د وژلو خبره بالکل دروغ ده ، هيڅوک هم دچا لخوا نه دي وژل شوي ، او پاتې شوه د استاد محمدياسر فک الله اسره دشهادت موضوع ، هغه موضوع هم ديوې آوازې په شکل خپره شوه ، خو داچې هغه رښتيا په شهادت رسيدلی او که نه ، کره شواهد اومعلومات په لاس کې نشته او تاسوته معلومه ده چې داستاد ياسر موضوع د ۲۵ کسانو له موضوع سره هيڅ اړه نلري ، استاد څوکاله کيږې چې پاکستان هيواد کې په بند کې شپې سباکوي .

پوښتنه ـ السلام عليکم ورحمته الله وبرکاته !

ګرانه ورورہ مجاهد صاحب هيله کوم چې جوړ ، روغ او په کامل صحت کښې ياست ! زما سوال دا دی چې آيا هغه شرکتونه چې بار چالاني او انتقالات کوي لکه شخصي اموال او يا دمخابراتي شرکتونو اموال لکه (افغان بيسيم ، اتصالات ، ام تی اين او روشان) د افغانستان ټولو ولايتونو ته انتقالات کوي د افغانستان اسلامی امارت لخوا کوم ممانعت خو به نه وي ؟ که جواب په تفصيل راکړی ديره په مننه . په درنه ناوی ستاسو ورور اجمل خان

ځواب ـ وعليکم السلام ورحمة الله وبرکاته !

د هغو شخصي شرکتونو په اړه چې صرف ملکي او شخصي تجارتي اموال دهيواد ګوټ ګوټ ته نقل کوي او يا دنورو شخصي کمپنيو چې ملکي خدمات او شخصي کارونه پرمخ وړي دهغو اموال نقل کوي ، ددغو انتقالاتي شرکتونو لپاره کومه ستونزه نشته ، خو شرط پکې دادی چې دوئ به کله هم دولتي مالونه ياد بهرنيو ځواکونواموال ديوځای نه بل ځای ته نه وړي بلکې له هغونه به په کلکه ځان ساتي ، بل هغه شرکتونه دي چې مطلق دبهرنيو ځواکونو پوځي او ناپوځي اموال ، اکمالاتي توکي او يا دکابل اداړې پورې اړوند اموال نقل کوي او له يادو ادارو سره قراردادونه لري دهغو لپاره کله هم اجازه نشته چې ياد اموال حمل او نقل کړي او که چيرته دراپورونو په اساس ياد انتقالاتي اموال په هرځای کې ونيول شي اموال او نقليه وسايط يې ضبط دي او ټول له منځه وړل کيږي ، دچلونکو او ساتونکو سره يې هم قانوني چلند کيږې چې پره يې هم دشرکتونو دخاوندانو او کارکونکو په غاړه ده ، او هغه مخابراتي شخصي کمپنی چې تاسو يې يادونه کړي دهغو دامو الو دانتقال لپاره کوم مشکل نشته خو په هرولايت کې به د اسلامي امارت له مربوطه اداړې سره تماس نيسي بيا به خپل اموال نقل کوي ترڅو وپيژندل شي چې په رښتياهم دياد و کمپنيو اموال دي چې ان شاءالله بيا به هيڅ مشکل هم ورته نه وي پيښ .

پوښتنه ـ مجاهد صاحب السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

مجاهد صاحب البته پوښتنه خومې داسې نه ده خوبیاهم ستاسوویب پاڼه ولې اکثره وخت بنده وي دا څه وجه ده؟

والسلام ستاسو دنیک ځواب په هیله ستاسوخادم حکیم الله تندر

ځواب ـ محترم ورور تندر صیب وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته ! داچې دښمن زموږ ټولو حرکاتو تـه متوجـه وي او ویب پاڼه هم په جهادي بهیر کې یو مهم رول اداکوي نو دښمنان مو کله کله ویب پاڼې ته مشکلات ایجادوي ، خو لله الحمد په ډیر کم وخت کې زموږ تخنیکي مسئولین توانیدلي چې پاڼه بیرته ژر فعاله کړي او دلوستوالوتنده ماتـه کړي ، البته دااوس اوس زموږ دسایت لپاره هروخت فعال آدرس جوړ شوی چې زه یې دادی لاندې درته لیکم امید شته چې نـور دویب پاڼې دخرابۍ له مشکله ټول وروڼه فارغ شي ان شاءالله .

www.alemarahnews.com

www.alemarahnews.org

پوښتنه ـ السلام علیکم ورحمته الله وبرکاتـه مجاهد صاحب کـه دمؤسساتوسـره دکارپـه هکلـه دامـارت درسـمي نظرپه هکله معلومات راکړئ .مننه انعام

ځواب ـ وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته ! هغه مؤسسات چې په افغانستان کې دبهرنې یرغـل دموخـو دتحقق لپاره نه وي استخدام شوي بلکې صرف بشري او انساني کارونه کوي ، موږ ورسره څه مشکل نه لـرو البتـه دا وضـاحت اړیـن دی چې د اوس لپاره په هیواد کې اکثره مؤسسات په افغانستان کې د یرغلګرو دګټو دتأمین لپاره کارکوي ، نو ځکه ستاسو په انتخاب کې هم ډیره ځیرکتیا په کار ده چې خدای مکړه دخپل هیواد ، معتقداتواو دینی ارزښتنو په ضد له چار سـره پـه غیر ارادي توګه اخته نشي . مننه

پوښتنه ـ السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ! زه یوه پوښتنه لـرم چې د خوست ولایـت بـاک ولسـوالۍ کې داسې خلک شته چې حکومت کې دي، ځوک ولسوالۍ کې دي ،ځوک یې په پارلمان کې دي ،ځوک یې په ملي اردو کې دي ، لنډه دا چې په هره ځانګه کې کسان شته او مجاهدینو پسې بد رد هم وایي ، خو دا خبـره ده چې مالدار دي، کسـان یـې زیـات دي مجاهدین څه نه ورته وایي ،چې دباک ولسوالۍ ترهکي کلي کې دي او کوم خلک چې لږ بې وسه وي هغه نه پریږدي دا ولې

؟ .ماخپله د باک مجاهدینو سره کار کړی دی ،خو اوس د خپل وطن څخه فرار شوي یم چې علت یې همدا خلک وو .مګر ما خپلو ملګرو ته زیات وویل ،خو څه نتیجه یې ور نه کړه . ، دې په باره کې معلومات غواړم . نور ولی خان

ځواب : محترم ورروره ماستاسو شکایت واورید او ستاسو خبره به په خوست کې ترمسئولینو پورې ورسوم ، خو یو څه چې باید تاسو یې یاد ولرئ هغه داده چې دامارت پالیسي داسی نه ده لکه څرنګه چې تا څوکسان په خپله سیمه کې یاد کړي دي ، او دا بالکل ممکنه ده چې کله کله په ځینو سیمو کې مجاهدین داسي اشتباهات وکړي ،خومورږ او تاسو ټول به یې داصلاح کوښښ کوو او خپل غږ به تر ملګرو رسوو ،چې دداسې مشکلاتو مخه ونیول شي . او له تانه ډیره مننه کوم چې دا شکایت مو له ما سره شریک کړ ، مننه کوم

پوښتنه ــ سلام به مجاهدین دلیر من در کشور ناروی زنده گی میکنم دلم سیر آمده است از زندگی و میخواهم که خدمت به مجاهدین کنم اگر کدام کسی را می شناسید من کدام حملهءفدایي میکنم ولی کدام چیزی ندارم و خیلی کفار در کشور مان ظلم کرده است من پناهنده استم و خیلی ظلم می کند بالای مردم افغانستان در اینجا. م ، ن

پاسخ ـ وعلیکم السلام !برادرم شما اگر میخواهید جهاد نماید اول به کشور خود بیاید ان شاءالله راه مناسب برای خدمت درصفوف جهادي برایتان دریافت خواهد گردید ، حمله فدایي درحالې که مسلمان از زندگي سیربیاید جایز نیست ، بلکې حمله ء استشهادي باید بخاطر هدف شهادت و خالص کسب رضاي خداوند متعال انجام شود، به این نوع حمله نام انتحاري را استعمال نمودن مثل که شمااستعمال نموده بودیدنیز جایز نیست ، بخاطریکه انتحار خودکشي را میگویند که هدفي جایزرا درقبال ندارد واین نوع عمل جایز نیست ،مگر حمله یې استشهادي بخاطر رضای الله تعالی و حاصل نمودن مرتبه شهادت انجام میشود ،که این عمل جایز و باعث اجر وثواب است ، به هرحال شما اگر میخواهید که علیه متجاوزین جهاد نماید و از حریم اسلام خویش دفاع نماید ،پس شما اول به کشور برگردید ان شاءالله راه های مناسب برایتان دریافت خواهد گردید خداوند متعال دردربار خود نیت واراده ء شمارا قبول نماید . تشکر

پوښتنه ــ السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ! محترم مجاهد صیب سلامونه او نیکې هیلې مو ومنئ زما پوښتنه د نیکټایي او پتلون په اړه ده ځینې خلک وایي چې ذاکر نایک نیکټایي اچوي نو کومه خبره نه ده چې څوک نیکټایي او پتلون واغوندې آیا په دغه باره کې کوم صریح قول راغلی دی که لږ وضاحت ورکړی ډیره مننه به مو وي . کریم الله

ځواب ـ وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته ! وروره ما ستاسو سوال داسلام پانې دارالافتاء ته راجع کړ چې په اړه یې شرعي حکم مورږ ته ولیکي او بیا به یې تاته دلته خپور کړو ، چې لاندې یې ځواب راغلی او تاسو ته یې ټکې په ټکي رانقلوم . مننه

الجواب حامداومصليا وبعد محترم وروره !

دنيکټايي په هکله دعلماؤاختلاف ده ځيني علماء وايي چې نيکټايي دعيسايانو مذهبي شعاردی لمړی به عيسايانو دصليب نښان په غاړه کول اوس دهغه په ځای متبادل نيکټايي اچوي چې په حقيقت کې دصليب دنښان په څيرګڼل کيږي ، لکه احسن الفتاوی ۴۲۹\۳ مخ کې راغلي چې دادنامسلمانومذهبي شعاردی اوله داسې لباس سره لمونځ مکروه تحريمي دی . مترجما وملخصا

اوځيني نورعلماء بياوايې چې تراوسه نه ده ثابته شوې چې دادعيسايانومذهبي شعاردی لکه په تقريرترمذي ۳۳۲\۲ کې علامه تقي عثماني صاحب ليکي چې دپوره تلاش اومطالعې نه وروسته مې بياهم ددي ماخذ اودليل ونه موند چې نيکټايي دصليب نښان ثابت کړي ،دلباس اوجاموپه اړه چې څومره کتابونه ليکل شوي دي بياهم دنيکټايي په اړه مې کوم مضمون ترنظرنه دی تيرشوی نوترڅوچې پې حقيقت پوره واضح نشې زه يې دنصاراؤ مذهبي شعار په وجه دحرمت له حکم څخه ډډه کوم الخ مترجما وملخصا .

په هرصورت دايوه ښکاره خبره ده چې نيکټايي ديوه مسلمان قوم لباس نه ده ،خوکه دعيسايانومذهبي شعارشي نوپه غاړه کول يې حرام دي پيغمبرصلی الله عليه وسلم فرمايي : من تشبه بقوم فهومنهم الحديث مشکوة ص\۳۷۵ژباړه ځوک چې ديوه [نامسلمان]قوم سره ځان ورته کوي نوداکس په هغوئ کې ګڼل کيږي :

په يوه بل حديث کې راځي : چې الله تعالی يوه پيغمبرته وحې وکړه چې خپل قوم ته ووايه چې زماددښمن داوسيدوسيمې ته به نه ورځئ ،زماددښمن دلباس اوجاموپه څيربه جامې نه په غاړه کوئ اوزماددښمن په سپرليوبه نه سپريږئ ، اونه به دهغوئ په ډول خوراک کوئ اوکه مودهغوئ په ډول داکارونه وکړل نوتاسوبه هم ددوئ په څير زموږ دښمنان شئ . الزواجر عن اقتراف الکبائر لابي بکرالهيثمي رحمه الله ص۱۱\۱ فتاوی الرحيميه ۳۳۱\۱۰

اوکه يې مذهبي شعارنشي نوبياهم دسخت ضرورت اوړتياپرته يې اغوستل مناسب نه دي ،ځکه مسلمان بايددمسلمانانولباس استعمال کړي ، دمسلمانانو لباس سره له دې چې دانسان دوقار اوعزت ساتونکی دی دنړۍ دهر قوم دلباس نه غوره اومعقول لباس هم دی چې په دي باندي دنامسلمانوقومونوهم اعتراف دی .

في فتاوی الملتقط ص\۲۴۵لووضع علی راسه قلنسوة المجوسي يکفر الخ ومثله في الهنديه وتتارخانيه وغيرها

وفي الزواجر ۱\۱۱ وفتاوی الرحيميه۳۳۱\۱۰اوحی الله الی نبی من الانبياء ان قل لقومک لايدخل مدخل اعدائي ولايلبس ملابس اعدائي ولايرکب مراکب اعدائی ولايطعم مطاعم اعدائي فيکون اعدائي کماهم اعدائي .والله تعالی اعلم

ظهور نماینده امارت اسلامی افغانستان در جاپان

پی آمدها و مسؤلیت ها

الیاس عاصم

شکی باقی نه مانده کي اکنون امارت اسلامی افغانستان به وسیله قربانیهای فراوان خویش که در راه جهاد ومبارزه علیه غرب به خرچ داد ،درحالتی رسیده که همه دوستان و دشمنان باید این حقیقت را بپذیرند ، امارت اسلامی افغانستان ده سال مبارزه مسلحانه ودلیرانه خویش را درشرائط بسا ضیق ، پرخطر و زیر فشارهای دشمن به پیش بورد ، اکنون سراغ آن دیده میشود که دیگر شبهای دراز انتظار وتار به وسیله امید به نصرت وفتح خداوند متعال در حالت صبح گاهان است و نه چندان دور ما شاهد فتوحات پی هم در جهت های مختلف این مبارزه خواهد بودیم ، اینکه همیشه روند های جهادی در تاریخ های بعد از دوصد سال به آما ل نهای خویش نه رسیده اند و در حین برداشت اخرین گام خویش به پیروزی ، همه دست آورد هارا دوباره دست خوش دشمنان کرده اند هم واقعیتیست که نه باید از آن انکار کرد ، ولی علت اساسی در آن این بوده که رهبری همان حرکت ها وجریانات، قربانی یک سلسله دسیسه ها شده که در نتیجه آن پس به عقب رفته ودر راه به دست آوردن اهداف خویش عوض تکیه به نصرت خداوند متعال اتکاءخویش را به اسباب و افزار دنیا بذل کردندکه فکتور اساسی نکبت بوده ، اکنون مجاهدین امارت اسلامی افغانستان هم در حالت قرار دارند که به نظرمیرسد همان دوراهی مسیر هرنهضت دیگر در پیش آنها هم عنقریب آمدنی است ، دوراهی عبارت از دو انتخاب است که یا واقعا فورمول را به کار گیرند که پیامبر اسلام صلی الله علیه وسلم و اصحابش (رضی الله تعالی عنهم)آن را در پیش میگرفتند ویا تأویلها نموده ، با مسائل رکیک تمسک کرده مصلحت های بی ثمر را گزینه خویش قرار نمایند ، باور این است که شاهد بادرنظرداشت فهم ، درک و تربیه سالم اعضای ارشد امارت اسلامی انها بتوانند اکنون هم با توکل خاصی که برخداوند متعال داشته اند باقی بمانند ومسیر سیاسی خویش را به مبنای الهامات از احکام شرعی خصوصا اصل عمده اسلام (قرآن

عظیم الشا ن) بدون تأویل انتخاب کنند ، که درنتیجه گفته میتوان در اخرین آزمون خویش هم برنده خواهد شدند ، ولی اگر خدانخواسته به علت فراهم آوریهای زمان ، وزمینه ها اتکاء بیشتر خویش را به اسباب ظاهری مبذول داشتند و عوض کسب رضای خداوند متعال درصدد کسب جلب حمایه به اصطلاح جامعه بشری به خصوص غرب وابر قدرت های جهانی شدند ، پس به یقین باید گفت که در آن صورت ماشاهد عقب روی های دینی خواهد بودیم ومسئولیت خون هزاران مجاهدان راه خدا راکه درضمن اجرای عملیات های گوناگون عملیات های استشهادی را به بسیار غیرت ومتانت وبخاطر اهداف بزرگ دینی انجام دادند درپی خواهد داشت.

دراین آواخر ماشاهد یک تحول عمده در کشور اسلامی مصر بودیم که در آنجا تنظیم اخوان المسلمین که سالیان متمادی را بخاطراقامه یک سیستم اسلامی در مصر در تکالیف، شهادت ها ، زندانها و سایرمبارزات گذرانیده بود ، به ظاهر برنده جریان اعلام شد ولی راه که اکنون اخوان انتخاب کرده اند آن راهی نبود که میتوان به وسیله آن راست هم تا آستانه فیرزی دینی رسید ، ما به صراحت گفته میتوانیم که مصر در پی تحول اخیر شاهد چندان تغیرعمده در عرصه سیاسی و کشور داری نه خواهد بود ، زیرا اگر به یاد داشته باشیم دوسال قبل اخوان المسلمین روی مصحلت های سیاسی از خطوط فکری قبلی خویش که توسط حسن البناء یا رهبران مابعد اخوان طرح ریزی شده بود ، اخوان کنونی آن را به شکل عمده تغیرداد و خواهان مصالحت وسازگاری بامنافع غرب شد ، از سوی دیگر نیرو ه نظامی مصر اکنون هم به دست کسانی قرار دارد که از مصر کرده غرب ومنافع غرب وهمچنین روابط با اسرائیل برایشان دارای اهمیت وارزش است ، نسبت به همین موانع و عقب نشینی ها روز گذشته روزنامه ديلي تليگراف چاپ انگلستان نویشت ، (که ماه گذشته سفر هیئت اخوان المسلمین به لندن ، سیاسیون بریتانیا را با حیرت مواجه ساخت ، زیرا آنها فکر نه میکردند که اخوان المسلمین اینقدر زود تر چنین سفر را به بریتانیا انجام دهد ، سران بریتانیا میگویند که جالب از همه این است که این بار سفر هیئت اعزامی مصر درحالت وارد لندن شدکه عوض فکر زوال غرب و ساختن خلافت اسلامی درفکر مهار کردن شورای نظامی مصر وایجاد یک حکومت قوی دیموکراتیک در مصر بود !!!)، با درنظرداشت این اظهارات پرتعنه که از جانب سران کشورهای غاصب غرب به نهضت های اسلامی ابراز میشود ، ما باید چیزی زیادی را از قبلتر

بیاموزیم ، زیرا اگر درمقابل غرب از همان سیاست محاذ آرایی کار گرفته نشود و عوض رویا روی به انجام معاملات با آنها فکر کرد حتما زیان خواهد دیدیم ، برمیگردیم بر مبحث اصلی که سفر موفقانه یک هیئت اعزامی امارت اسلامی به جاپان بود ، هیئتی که به جاپان فرستاده شد ازچند زاویه قابل ستایش و علامت فتح است:

۱ـ هیچ موانع درسر راه سفر به جاپان برای هیئت مذکور وجود نداشت ، که بدون شک دست آورد بزرگ است.

۲ـ هیئت سفر ازلحاظ سن، دانش واستدلال شخص بسا بارز در صفوف امارت بود .

۳ ـ شخص هیئت شخصي بود که به قوم بدون پشتون ارتباط داشت وهویدا نمود که در صفوف امارت اسلامی قومیت ، سمت ، قبیله و جهت قابل اعتبار نه بوده بلکی اهلیت و تقوا معیار ارزش است ، بدین ترتیب بعضی ازکسان که تشکیل امارت اسلامی را به یک قوم خاص در کشور ارتباط میدادند هم شرمسار شدند .

۴ـ هیئت اعزامی امارت در توکیو مورد محراق توجه همه شرکت کننده ها قرار گرفت وبیانیه خاص وپر محتوایی را ایراد نمود .

۵ ـ ظهور هیئت در حالت که در عرصه نظامی هم دربرابردشمن ازهمه کارکردهای نظامی وسعی بلیغ جهادی استفاده میشود ، دشمن را گیچ ساخت.

۶ـ دوستان امارت اسلامی افغانستان بسطح جهان اکنون خواهد توانستند که نسبتا در فضای آزاد سیاسی باامارت اسلامی ارتباطات خویش را تامین نمایند وبدین گونه امارت اسلامی دارای پوتنسیال بیشتر سیاسی ومردمی خواهد شد .

پس مجاهدین در حالت حساس کنونی در بخش سیاسی باید گام های بسیار استوار وبا احتیاط کامل رابردارند که اکنون زمانی آزمون بزرگی رسیده و نه باید با آن سهل انگاری یا کسل صورت گیرد ، یاخدا نخواسته آرمانهای شهدای خود را در جریان تحولات سیاسی به باد فراموشی سپرد ، مکلفیت مجاهدین هنوز هم بجا نمودن احکام خداوند است وتا آخرین رمق زندگی همین مسئولیت بدوش رهبری امارت اسلامی قرارخواهد داشت که بخاطر کسب رضای خداوند متعال با آن باید برخورد سنجیده ومحتاطانه نمود .



مولوي محمداويس (عباس)

له جهاد پرته په کومه وسيله جنت ته ولاړشې

دمالي جهاد فرضيت

(محمداويس عباس)

دخدای په لاره کې د مالي جهاد فضيلتونه (ښېګړې) او همدا راز د مجاهدينو داړتياوو پوره کولو ، او د هغوئ د کورونو د ساتني فضيلتونه !

هرمسلمان چې د خپل مال په لګښت جهاد اود الله جل جلاله د سپېځلي دين دفاع کوي له الله جل جلاله څخه دهغه په بدل کې دهغه رضاء او د رحمت په مېلمستون يعني جنت کې له نيکانو سره د ګډ ژوند غوښتونکی وي, د مجاهدينو جهادي ضروريات ورپوره کوي او دهغوی د کورونو ساتنه او ځارنه په ټول توان سره کوي, نو الله جل جلاله به دده ټولي اړتياوي او غوښتني دخپلي لورېيني له مخه ورپوره کړي او په مال دولت کې به يې برکت او نماء نازله کړي .

دا چې کافرانو په ټوله اسلامي نړۍ يرغل کړی دی ، د مسلمانانو دين ، قرآن ، ديني احکام ، عقيده ، مذهب ، ناموس ، عزت ، خپلواکي ، خاوره ، حريت ، ازداي ، اخلاق ، عنعنات ، اوقومي رواجونه په سراسر نړۍ کې روزمره پايمالوي ، ددوی د شرارت په سبب په ټوله نړۍ کې مسلمان هيوادونه سورتبخی ګرځيدلي چې هيڅ ځای د مسلمانانو شپه په ارام نشته ، مسلمانان يې د جګړې د سوند مواد ګرځولي دي ، کافران ددې فساد خپرولو لپاره په هيڅ سپما نه کوي ، يو دبل شاته ولاړدي ، مالي ، عسکري تجهيزات ، لوژستيکي مواد ، جګړيز وسايل او اسباب ، وحشيانه لښکري د اشر په توګه راټولوي او دمسلمانانو کورونه او کلي پرې تباه کوي ، نو په مسلمانانو باندي فرض ده چې ددې عظيم شر فساد مخنيوئ وکړي ، او په دې لاره سپما ونکړي يو دبل شاته په کلک عزم و

دريږي ځاني مالي کومکونه وکړي ، مسلمان غازي مجاهدين تقويه کړي ، د هغوی ارتياوي ورپوره کړي .

داسي مسلمان چې د الله حضورته ور وړاندي شي چې دوی خپلي سرمايې پر بې ضرورته مانيې ، بنګلو ، او پرته له کوم ضرورته په لوړ قيمته موټرو ، سيلو ، پارکونو ، هوټلونو ، د خارج په چکرو مصرف کړي وي ، او دالله ددين هيڅ فکر نه وي ورسره پيدا شوی ، اونه ځاني او نه يې کوم مالي لګښت پرې کړی وي ، په غفلت کې خپل ژوند د حيواناتو په څير پای ته رسولی وي ، باور وکړئ چې نه به لوی خدای له رحمت څخه برخمن شي ، اونه به د جنت د نعمتونو خوند وګوري ، ځکه په اوسنيو حساسو نازکو حالاتو کې ، مالي مصرف د خدای په نفلي عباداتو کې لکه نفلي حجونه ، عمرې ، نفلي خيرلتونه اوصدقې ، بې ضرورته د عبادت په مسجدونو باندي مالي لګښتونو باندي له خدای څخه نجات نشي پيدا کولای نو څه فکر کوئ چې چا سرمايه په بې هوده کارو او ځايو کې مصرف کړي څه نجات به ترلاسه کړي .

قال الله تعالى { مَثَلُ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنْبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِي كُلِّ سُنْبُلَةٍ مِئَةُ حَبَّةٍ وَاللَّهُ يُضَاعِفُ لِمَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ (261) } سورة البقرة .

ژباړه: کوم خلک چې خپل مالونه د الله په لاره (جهاد) کې لګوي دهغوی مثال داسي دی لکه چې يوه دانه وکرله شی او له هغې نه اووه وړي زرغونه شي او په هر وړي کې (۱۰۰) دانې وي په دې ډول کله چې د الله خوښه شي د چا نېکو اعمالوته وده ورکوي هغه د رزقونو پراخونکی او هم دعلم څښتن دی.

يعنې چې نيت يې رونړ او سپېڅلی وي الله جل جلاله پوره باخبره دی او دلوی علم څښتن دی د هيڅ يوچا نيت اوعمل له ده پټ نه دی د الله جل جلاله له ارادې او خوښی سره سم به تردې هم لوی ثواب ورکړی .

عن ابن عمر رضي الله عنهما قال : لماانزلت (مثل الذين ينفقون أموالهم في سبيل الله كمثل حبة أنبتت سبع سنابل في كل سنبلة مائة حبة والله يضاعف لمن يشاء والله واسع عليم) سورة البقرة .

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم رب زد أمتي فنزلت إنما يوفي الصابرون أجرهم بغيرحساب . الزمرورواه ابن حبان في صحيحه والبيهقي.

ژباړه: حضرت ابن عمر رضی الله عنه له نبي کريم صلی الله عليه وسلم څخه روايت کړ يدی هغه مهال چې د سورة بقرة دا آيت نازل شو ، قال الله تعالى { مَثَلُ الَّذِينَ يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنْبَتَتْ سَبْعَ سَنَابِلَ فِي كُلِّ سُنْبُلَةٍ مِئَةُ حَبَّةٍ وَاللَّهُ يُضَاعِفُ لِمَنْ يَشَاءُ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ (261) } سورة البقرة. ترجمة يې لږه مخکې تيره شوه .

نو نبي کريم صلی الله عليه وسلم دعاء وکړه يا الله زما د اُمّت ثواب نور هم ور زيات کړه الله جل جلاله دده دعاء قبوله کړه د سورة الزمر دا آيت نازل شو {... إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ (10) } په تحقيق سره صابرانو ته به بشپړ ثواب ورکړ شي چې د هغوی ثواب به (د انساني فکر) له حساب څخه ډېر زيات وي .

عَنْ خُرَيْمِ بْنِ فَاتِكٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَنْفَقَ نَفَقَةً فِي سَبِيلِ اللَّهِ كُتِبَتْ لَهُ بِسَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ . رواه الترمذي , وقال حديث حسن , و النسائي و ابن حبان في صحيحه , و الحاكم , وقال صحيح الإسناد . والمصنف ابن ابي شيبة , ومسند احمد .

ژباړه: حضرت خريم بن فاتک رضی الله عنه له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه روايت کړيدی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چې د خدای دلارې په جهاد د مال لګښت وکړي هغه به دده لپاره په اووه سوه چنده وليکلای شي.

عن أبي هريرة عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه قال في هذه الآية : « سبحان الذي أسرى بعبده ليلا من المسجد الحرام إلى المسجد الأقصى (1) » قال : « أتي بفرس فحمل عليه قال : كل خطوة منتهى أقصى بصره ، فسار وسار معه جبريل عليه السلام ، فأتى قوما يزرعون في يوم ويحصدون في يوم ، كلما حصدوا عاد كما كان ، فقال : يا جبريل ، من هؤلاء ؟ قال : هؤلاء المجاهدون (وفي رواية : المهاجرون) في سبيل الله ، يضاعف لهم الحسنة بسبعمائة ضعف ، وما أنفقتم من شيء فهو يخلفه وهو خير الرازقين (2) ...} . فذكرالحديث بطوله. رواه دلائل النبوة للبيهقي واللفظ له , وتهذيب الآثار للطبري .

(1) سورة : الإسراء آية رقم : 1.

(2) سورة : سبأ آية رقم : 39 .

ژباړه: حضرت ابو هريره رضی الله عنه له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه روايت کړيدی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم دې آيت سبحان الذي. په تشريح کې وفرمايل: (د معراج په شپه باندې) نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته يو براق راوستل شو چې د هغه يو قدم

دومره واټن درلود چې څو د انسان د سترګو دید رسېدو ، نبي کريم عليه السلام له خپل ملګري جبرئيل عليه السلام سره يو ځای معراج په سفر کي په يوه ډله را غلل چې په يوه ورځ اندازه کي به دوی کرونده وکړه او په دغه ورځ کي به يي وريبله چې کله به يي له لوڅه فارغ شول سمدلاسه به بيا په هغه ځاي هغومره کښت ولاړ وو ! نبي کريم صلی الله عليه وسلم له ملګري پوښتنه وکړه چې دا څوک دي ؟ جبرئيل عليه السلام ورته وويل: چې دا خداي دلارې مجاهدين (په بل روايت کې راغلي چې مهاجرين) دي د دوی د نېکو اعمالو ثوابونه له اووه سوه (700) چنده څخه زيات ورکول کيږي ، او هرڅومره مالي لګښتونه چې دوی د خدای د لارې په جهاد کې کوي د هغو بدل بيرته ورکول کيږي، جل جلاله تر ټولو ښه رزق ورکوونکی دی.

فايده: ددې خبری رينبتونوالی له هغو مخلصو مسلمانانو څخه وپوښتئ چې دښه نيت له مخه يې له مجاهدينو سره مرسته کړې وي چې الله جل جلاله دهغه مصرف شوي مال په ځای نور له برکته څخه ډک مالونه څومره ورکړي دي .

د جهاد په صف کې يوه نيکۍ په اووه لکه شميرله کيږي

عَنْ الْحَسَنِ عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ وَأَبِي الدَّرْدَاءِ وَأَبِي هُرَيْرَةَ وَأَبِي أُمَامَةَ الْبَاهِلِيِّ وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو وَجَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ وَعِمْرَانَ بْنِ الْحُصَيْنِ كُلُّهُمْ يُحَدِّثُ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ مَنْ أَرْسَلَ بِنَفَقَةٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَأَقَامَ فِي بَيْتِهِ فَلَهُ بِكُلِّ دِرْهَمٍ سَبْعُ مِائَةِ دِرْهَمٍ وَمَنْ غَزَا بِنَفْسِهِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَأَنْفَقَ فِي وَجْهِ ذَلِكَ فَلَهُ بِكُلِّ دِرْهَمٍ سَبْعُ مِائَةِ أَلْفِ دِرْهَمٍ ثُمَّ تَلَا هَذِهِ الْآيَةَ { وَاللَّهُ يُضَاعِفُ لِمَنْ يَشَاءُ } .رواه ابن ماجة في فضل نفقة في سبيل الله , و تفسير ابن أبي حاتم , و كنز العمال , المسند الجامع , تأليف أبي الفضل السيد أبو المعاطي النوري المتوفى 1401 هجرية . تحفة الأشراف بمعرفة الأطراف , المؤلف : الحافظ المزي المحقق : عبد الصمد شرف الدين , طبعة : المكتب الإسلامي ، والدار القيّمة الطبعة الثانية: 1403هـ ، 1983م .

ژباړه: حضرت حسن بن علي بن أبي طالب او أبوالدرداء او أبوهريرة او أبو أمامة الباهلي او عبدالله بن عمر او جابر بن عبدالله او عمران بن حصين رضي الله عنهم له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه روايت کړيدی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چې خپل مال خدای د لارې مجاهدينو ته وليږي او دی په خپل کور کې پاته شي دهغه يوه روپۍ په اووه سوه (۷۰۰) چنده شميرل کيږي ، او هغه څوک چې مال دخدای د لارې په جهاد کې ورکړي او په خپله هم دمجاهدينو په صف کي په عملي توګه ونډه واخلي د هغه يوه روپۍ

په (۷۰۰۰۰۰) اووه لکه چنده باندي شمیرل کیږي ، بیایي د دې خبري د ثبوت لپاره دا آیت تلاوت کړ (والله یضاعف لمن یشاء والله واسع علیم.

عَنْ مُعَاذِ بن جَبَلٍ، أَنّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ:"طُوبَى لِمَنْ أَكْثَرَ فِي الْجِهَادِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ مِنْ ذِكْرِ اللَّهِ، فَإِنَّ لَهُ بِكُلِّ كَلِمَةٍ سَبْعِينَ أَلْفَ حَسَنَةٍ، كُلُّ حَسَنَةٍ مِنْهَا عَشَرَةُ أَضْعَافٍ، مَعَ الَّذِي لَهُ عِنْدَ اللَّهِ مَنَ الْمَزِيدِ"، قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَفَرَأَيْتَ النَّفَقَةَ؟ فَقَالَ:"النَّفَقَةُ عَلَى قَدْرِ ذَلِكَ"قَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ: فَقُلْتُ لِمُعَاذٍ: إِنَّمَا النَّفَقَةُ سَبْعُ مِائَةِ ضِعْفٍ، فَقَالَ مُعَاذٌ:"قَلَّ فَهْمُكَ، إِنَّمَا ذَلِكَ إِذَا أَنْفَقُوهَا وَهُمْ مُقِيمُونَ فِي أَهْلِيهِمْ غَيْرَ غَزَاةٍ، فَإِذَا غَزُوا وَأَنْفَقُوا خَبَّأَ اللَّهُ لَهُمْ مَنْ خِزَانَةِ رَحْمَتِهِ مَا يَنْقَطِعُ عَنْهُ عَلِمُ الْعِبَادِ وَصِفَتُهُمْ، { فَأُولَئِكِ حِزْبُ اللَّهِ، وَحِزْبُ اللَّهِ هُمُ الْغَالِبُونَ" } رواه الطبراني في الكبير . مجمع الزوائد ج (5) ص (282) ط بيروت . و الترغيب الترهيب , ج (2) ص (162) ط بيروت .

ژباړه: حضرت معاذ بن جبل رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: هغه څوک نیکمرغه دی چې دخدای د لارې په جهاد کې دخپل پروردګار ذکر ډېر ډېر کوي له دې امله چې د هري یوې کلمې په بدل کې اویا زره (۷۰۰۰۰) نیکی (ښېکنې) ورکول کیږي په دې توګه چې هره یوه نیکي یې لس (۱۰) چنده ثواب لري په داسي حال کې چې د خپل پروردګار له لوري دنور زیادت تمه هم ورکول شوې ده ، یو چا پوښتنه وکړه یا رسول الله څوک چې دخدای د لارې په جهاد کې دمال لګښت وکړي د هغه حال هم راته بیان کړه ؟ ده په ځواب کې ورته وویل: هغه به هم په همدې توګه شمیرل کیږي ، حضرت عبد الرحمن رضی الله عنه حضرت معاذ ته په خطاب کې وویل: چې د مال لګښت خو په اووه سوه (۷۰۰) چنده وو ؟ هغه په ځواب کې ورته وویل: ته ناخبر یې هغه خو دهغه چا مال دی چې یوازې مال یې مجاهد ینوته ورکړی وي او دی په کور کې پاته وي په جهاد کې په عملي توګه ونډه نه وي اخستې ، او هغه مجاهد چې دخدای د لارې په جهاد کې د مال لګښت وکړي او په عملي توګه د غازیانو په لښکر کې شریک شي ونډه ولري الله جل جلاله به هغه ته دخپل رحمت له زېرمې بشپړه مکافات ورکړي چې په هغه باندي د انسان علم احاطه نشي کولای او نه یې په ژبه بشپړه بیان کولای شي ، دوی دخدای جل جلاله ډله ده او دخدای ډله به ارو مرو دبریاوو څښتنان وي.

فائده: په دې حدیث شریف کې په صراحت سره ذکرشوو چې دخدای دلارې په جهاد کې د یوې کلمې او یوې روپۍ ثواب د الله جل جلاله له لوري اویازره (۷۰۰۰۰) چنده ورکول کیږي اوهره برخه یې په ځانګړي ډول له (۱۰) برخو سره انډول ده نو اویازره چې په لس کې ضرب ورکړي دهغې مساوي (۷۰۰۰۰۰) اوه لکه نېکیوته ورسېد دا خو په یقین سره ده او

تردې نور هم د زياتو ثوابونو اميد شته , حضرت معاذ رضی الله عنه فرمائی چې دهغې له بيان څخه د انسانانو ژبې او له سنجولو څخه ئې عقلونه عاجزدي .

دابن ماجې له حديث سره سم چې له اوو کسو اصحابو رضی الله عنهم څخه روايت نقل کړيدی چې دخدای دلارې دجهاد يوه نېکی په اووه لکه شميرل کيږي ، اوس که اوو لکه شمېرې ته په اووه سوه شمېره کې ضرب ورکړې نو دتبليغيانو په دود تر انچاس کرور څخه لا په هغې خوا اوړي چې اويا زره لکه ته يې حاصل ضرب رسيږي ، بيا خو په تخمين او اټکل کې ډېر لوی رقم دثوابونو لاسته راځي .

عن زَيْدُ بْنُ خَالِدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ جَهَّزَ غَازِيًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَقَدْ غَزَا وَمَنْ خَلَفَ غَازِيًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِخَيْرٍ فَقَدْ غَزَا . رواه البخاري واللفظ له , ومسلم , وأبو داود , والترمذي , والنسائي .

ژباړه : حضرت زيد بن خالد رضی الله عنه روايت کړيدی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : څوک چې دخدای دلارې مجاهد په وسايلو سمبال کړي نو ده په غزا کې ونډه واخيسته ، همدا راز که څوک دخدای د لارې دغازي شاته پاتې اړتياوي په ښه توګه ورپوره کړي داسي وګڼه چې دئ هم دغزا برخوال شو .

عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ : « مَنْ جَهَّزَ غَازِياً فِى سَبِيلِ اللَّهِ أَوْ خَلَفَهُ فِى أَهْلِهِ كُتِبَ لَهُ مِثْلَ أَجْرِهِ إِلاَّ أَنَّهُ لاَ يَنْقُصُ مِنْ أَجْرِ الْغَازِى شَيْئاً ». تحفة 3761 إتحاف4874 . ورواه ابن ماجة , ومستخرج أبي عوانة , وشعب الإيمان للبيهقي , والمعجم الصغير للطبراني , وصحيح ابن حبان , وصحيح ابن خزيمة , ومسندالطيالسي, والسنن الكبرى , والمعجم الكبيرالطبراني , كلهم عن زيد بن خالد .

ژباړه : حضرت زيد بن خالد رضی الله عنه روايت کړيدی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل : څوک چې دخدای دلارې مجاهد په وسايلو سمبال کړي يا يې شاته پاتې دکور چاري په ښه نيت بشپړي کړي نو ده ته به هم د غازي سره اندول ثوابونه ورکړل شي له دې سره سره چې دغازي په ثوابونو کې به هم هيڅ ډول نيمګړتيا نه راځي.

عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ جَهَّزَ غَازِيًا فِي سَبِيلِ اللَّهِ حَتَّى يَسْتَقِلَّ كَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِهِ حَتَّى يَمُوتَ أَوْ يَرْجِعَ . رواه سنن ابن ماجة .

ژباړه : حضرت عمر بن خطاب رضی الله عنه روايت کړيدی چې ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم اورېدلي دي چې وې فرمايل : څوک چې دخدای دلارې مجاهد په وسايلو سمبال

کړي آن تردې چې دهغه ټولي اړتياوي پوره شي نو ده ته به تر هغه مهاله د غازي انډول ثواب ونه ورکول کيږي تر څوچې هغه بيرته راستون شي يا په هغه لوري په شهادت رسيږي .

له مجاهدينو سره د لوژستيکي موادو د مرستي ارزښت !

عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْضَلُ الصَّدَقَاتِ ظِلُّ فُسْطَاطٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَمَنِيحَةُ خَادِمٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَوْ طَرُوقَةُ فَحْلٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ .

قَالَ أَبُو عِيسَى هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ وَهُوَ أَصَحُّ عِنْدِي مِنْ حَدِيثِ مُعَاوِيَةَ بْنِ صَالِحٍ . رواه الترمذي , باب ماجاء في فضل الخدمة , و المعجم الكبير الطبراني .

الفُسْطاطُ : بيتٌ من شَعَرٍ، وفيه ثلاث لغات : فُسْطاطٌ وفُسْتاطٌ وفُسَّاطٌ، وكسر الفاء لغةٌ فيهنّ .

والمَنيحةُ : أصلُها أن يُعْطَى الرجلُ الناقَةَ، فيشرب لبنَها أو الشاةَ، ثم صارت كلُّ عطيةٍ منيحة .

طروقة الفحل : بفتح الطاء وبالإ ضافة هي الناقة التي صلحت لطرق الفحل وأقل سنها ثلاث سنين وبعض الرابعة وهذه هي الحقة ومعناه أن يعطى الغازي خادما أو ناقة هذه صفتها فإن ذلك أفضل الصدقات .

ژباړه: حضرت ابو امامه رضی الله عنه روايت کړيدی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ترټولو غوره صدقه دخدای دلاړې مجاهدينوته (ددوی دا ړتيا له مخه دګرمۍ په مهال) لويه خيمه ورکول دي ، همدا راز د دوی د خدمت لپاره ځوان مړيی ورکول دي ، او همدا راز د دوی دا ړتيا د پوره کولو په موخه ځوان قوي اوښ ورکول دي.

(چې دخدای ﷻ د سپېځلي لارې غازيان د جهاد اړونده اړتياوي پرې پوره کړي او د جهاد کارونه منظم او منسجم کړي نورهم د جهاد دلارو چارو د پرمخ بېولو لپاره ځواکمن او پياوړي شي).

مطلب : دا چې بدمرغي خو زمونږ له دې حال سره تړلې ده چې د قرآن او حديث مبارکه وو له لوستلو څخه بی برخی ژوند کوو نو ځکه ډېر خلک په جهاد کې خپل مال نه مصرفوي او که يې مصرف هم کړي په زړه کې کرکه ورځخه کوي او خپل مال په داسي څيز ارزيابي کوي لکه چې غلو او داړه مارانو چې ورځخه وړی وي يا د درياب په اوبو کې لاهو شوی وي سره له دې چې د الله جل جلاله له لوري د مسلمانانو په ذمه فرض ده چې د ضرورت په مهال به خپل مال د دينی ارزښتونو د دفاع لپاره حتما ورکوي .

آیساف (ISAF)

دالفاروق په څپوکې

ذبیح الله " مجاهد"

هسې خوهم ټول په دې باور اویقین دې چې دآیساف او ائتلافې یر غلګر و بېخ په افغانستان کې په ختو دی ، هر ه ورځ تر بلې شاګرځ کوي او له نظامي ،سیاسي او اقتصادي پلوه در وکود او ګونډو کیدوپه حال کې دي ، ناټوخیل اګر که دغه زوال او سریع نکبت په خوله نه وایي خو دلوی الله جل جلاله حمد ده په غیر ارادي او یا ښایې دخورامجبوریت له مخې پې داسې څر ګندوني له خوله راوځي چې دلته واقعتونه او پیښ حقیقتونه افشاکوي .

د غزني ولايت د ګيلان ولسوالۍ د کوچني جبارپه سيمه کې ديرغلګر وپه پلي ګزمه دچره دارماين درنه چاودنه وشوه ،لـه املـه يې 1 تـن عسـکر ځـای پـه ځـای ووژل شـواو3 شـديدټپيـان شـول،لـه چـاودني ورو سـته دلـوی جبارپـه سـيمه کې ديرغلګر واواجيـري ارد وپـه ګزمـه دوسـلوال بريـد پـه تـرخ کې 1 ر کشـه موټر سـايکل پـه پـوره ډول تخريـب او2 تنـه 2012-06-27عسکر ووژل شول.

مقر کې ديرغلګروپه ګزمه بريدوشو

دغزني ولايت د مقر ولسوالۍ په عزت کلاسيمه کې ديرغلګر وعسکرو ګزمـه دمجاهدينو تربريدلانـدي راغله.دبريدپـه 2012-06-27 ترخ کې دښمن ته تلفات واوښتل خوپه اړه يې کره شواهدنه دي ترلاسه شوي.

اندړو کې په پوسته بريد، قومندان او4 عسکروژل شوي

دغزني ولايت داندړ ولسوالۍ په بدوانوسيمه کې د ګوډاګيوعسکر وپه پوسته دوسلوال بريداملـه دپوسټې ودانۍ 2012-06-27زيانمنه اوپه دې سربېره دپوسټې دقومندان (منان) په ګډون5 تنه عسکر ووژل شول.

اب بند کې چاودني 4 عسکر مړه اوژوبل کړل

دغزني ولايت په اب بندولسوالۍ په بادام کيچه سيمه کې داجيـري ارد وپـه رېنجر موټر دځمکني مـاين چاودنـه وشـوه 2012-06-27، په چاودنه کې موټر تخريب 1 تن عسکر مړ او3 نورپې شديدټپيان شول.

قرباغ کې 1 بهرنی او6 کورني عسکروژل شوي

دغزني ولايـت د قربـاغ ولسـوالۍ پـه ملاخيـل سـيمه کې د ګډدښـمن ګزمـه دمجاهدينو تروسـلوال بريدلانـدي راغلـه، دبريدپه مهال يورينجر ويجاړيو تن بهرني او6 تنو کورني عسکر مړه او ګڼ شمېر نور ټپيان شول. دجګړې پـه پـای کې داشغالګروچورلکوپه سيمه درنه بمباري وکړه اوله املـه يې2 تنـه مجاهدين زخميـان او ۲ تنـه دشـهادت لوړمقام تـه 2012-06-27ورسېدل. اناالله وانااليه راجعون

اندړو کې چاودنې دجاسوسي اداړې2 کارمندان ووژل

دغزني ولايت داندړ ولسوالۍ په عاشوق والوسيمه کې دجاسوسي اداړې په ډاډتسن موټر دځمکنې مايڼ چاودنې 2012-06-27موټر ويجاړ اودجاسوسي اداړې 2 تنه کارمندان ووژل.

دهاوان برید3عسکرووژل P.R.T مقر کې په

دغزني ولايت په مقر ولسوالۍ کې ديرغلګرو عسکرو په پي آر ټي دهاون6 مرمۍ وار اوپه ټاکلي هدف ولګېدلي،له املې 2012-06-27پي دپي آر ټي ودانۍ تخريب ۳تنه عسکر مړه اوګڼ ټپيان شول.

ګيرو کې مايڼ ټانګ او4 ير غلګرو له منځه يوړل

د غزني ولايت د ګيرو ولسوالۍ دخواجه نور غونډۍ ته نژدې ديرغلګرو عسکرو په ټانګ چاودنه وشوه،له املې يې ټانګ 2012-06-28ويجاړ او څلور تنه عسکر ووژل شول.

خوګيانۍ کې مايڼ د3 ير غلګرو ژوندۍ اخيست

دغزني ولايت د خوګيانۍ ولسوالۍ په ولي کلاسيمه کې داشغالګرو عسکرو په زغرو ال ټانګ دبنخ کړل شوي مايڼ 2012-06-28چاودنه وشوه، چاودنې ټانګ ويجاړ، 3 تنه بهرني عسکر مړه او۲تنه نور يې ژوبل کړل.

ګيرو کې چاودنې د2 ير غلګرو ژوندۍ اخيست

دغزني ولايت د ګيرو ولسوالۍ په پارچه سيمه کې ديرغلګرو عسکرو په پلي ګزمه دبنخ کړل شوي مايڼ چاودنې2 2012-06-28 تنه ير غلګر عسکر مړه اوګڼ نور ټپيان کړل.

ګيلان کې يوتن مجاهد1 اشغالګر قتل او2 ټپيان کړل

دغزني ولايت د ګيلان دولسوالۍ په شينکي سيمه کې يو تن مجاهد ملا رحمت الله حبيب په يواځې تن داشغالګرو عسکرو په پلي ګزمه وسلوال بريدو کړ، په بريد کې 1 تن بهرنی عسکر مړ او2 نور سخت ژوبل شول ددښمن په متقابلو ډزو کې نوموړی مجاهد دشهادت لوړ مقام ته 2012-06-28ورسېد.اناالله وانااليه راجعون

ګيرو کې ديرغلګرو په ګزمه بريدو شو

دغزني ولايت د ګيرو ولسوالۍ په شامراد کې ديرغلګرو عسکرو په ګزمه وسلوال بريد ترسره شو. په بريد کې دښمن 2012-06-28 ته داوښتې زيان په هکله معلومات نه دي ترلاسه شوي.

ګيرو کې چاودنې ټانګ ويجاړ او5 ير غلګرو ووژل

دغزني ولايت د ګيرو ولسوالۍ په شال سيمه کې ديرغلګرو عسکرو په زغرو ال ټانګ درنه چاودنه وشوه. له املې ټانګ 2012-06-29ويجاړ اوپکې سپاره ۵ تنه عسکر ټول ځای په ځای ووژل شول.

خوګيانۍ کې مايڼ د5 عسکرو ژوندۍ اخيست

د غزني ولايت دخوګيانو ولسوالۍ په سره کلاسيمه کې داجيري اردو په رينجر موټر دبښ کړل شوي مايين 2012-06-29 دچاودني له امله موټر تخريب اوپنځه تنه عسکر ووژل شول .

ده يک کې 1 ټانک او 7 يرغلګر له منځه لاړل

د غزني ولايت د ده يک ولسوالۍ د تاسنګ په سيمه کې ديرغلګر وعسکر وپه ګزمه وسلوال بريد تر سره شو. دبريد په 2012-06-30 ترڅ کې يوزغروال ټانګ دهشتاددوپه توسط ويجاړ او ۷ تنه عسکر ووژل شول

اندړ : چاودني 4 اشغالګر ووژل

دغزني ولايت د اندړ ولسوالۍ په جوی پنج سيمه کې ديرغلګر وپه ټانګ درنه چاودنه وشوه ، دچاودني له امله ټانګ په 2012-06-30 پوره ډول له منځه لاړ اوپکي سپاره عسکر 4 تنه ځای په ځای ووژل شول.

په جلابريدونو کې 7 عسکر وژوندله لاسه ور کړ

د غزني ولايت په ارزوسيمه کې ديرغلګر و ګزمه دمجاهدينو تربريدلاندي راغله، په بريد کې يوزغروال ټانګ پوره تخريب ، ۴ تنه عسکر مړه اوګډ نور ژوبل شول. ديوبل خبر له مخې دولايت دمرکز اړوندپه منګور سيمه کې دګډدښمن په ګزمه دوسلوال بريدپه ترڅ کې 1 بهرنی او 2 داجيري اردوعسکر مړه اوګډ نور تپيان شول. خبروايي 2012-06-30 ددښمن په متقابلوډزو کې يو تن مجاهداويودمدرسې طالب شهيدان شول اناالله وانااليه راجعون.

قرباغ کې په ټانګ چاودني 3 يرغلګر ووژل

د غزني ولايت دقرباغ ولسوالۍ په صاحب زاده سيمه کې ديرغلګر وعسکر وپه ټانګ دځمکني مايين دچاودني له امله 2012-06-30 ټانګ په بشپړه توګه له منځه لاړ اوپه ټانګ کې 3 تنه عسکر ځای په ځای ووژل شول.

اندړو کې 2 بهرني عسکر ووژل شول

دغزني ولايت د اندړ ولسوالۍ په نانې سيمه کې ديرغلګر وعسکر وپه پلې ګزمه دوسلوال بريد په ترڅ کې ۲ تنه 2012-06-30 بهرني عسکر ووژل شول او ۲ نور سخت ژوبل شول .

پکتيا

لجه منګل کې په ټانګ چاودني 2 اشغالګر ووژل

دپکتياولايت لجه منګل ولسوالۍ مرکز ته نژدې مجاهدينوداشغالګر وعسکر ويوزغروال ټانګ په مايين والوزاوه. دخبر له قراره ټانګ بشپړ ويجاړ، ۲ تنه عسکر مړه او ۲ نور ژوبل شول. 2012-06-01

پکتياکې 1 موټر او 2 عسکر له منځه لاړل

دپکتياولايت دمرکز ګردېزاړونده په تېره سيمه کې دګډدښمن په ګزمه دوسلوال بريد په مهال ۱ عراده رينجر موټر تخريب ، ۲ تنه عسکر مړه داو 3 نور سخت ژوبل شول. 2012-06-01

پکتیامرکزته څېرمه 3پولیسوژوندله لاسه ورکړ

د پکتیاولایت دمرکز اړونده دابرهیم خیلوپه سیمه کې دپولیسو په ګزمه دوسلوال بریدله املـه ۳تنه پولیس مړه او ګڼ نور ژوبل شول .2012-06-02

پکتیامرکزته څېرمه 1موټر، 1ټانک تخریب او5عسکروته مرګ ژوبله واوښته

د پکتیاولایت دمرکز ګرځ دېزاړوندپه ابراهیم خیل سیمه کې د ګډدشمن په موټریزه ګزمه دوسلوال بریدپه ترڅ کې۱ ټانګ او۱ رېنجر موټر تخریب اوپه دې سرېره ۲ تنه عسکر مړه او ۳ نور سخت ژوبل شول .2012-06-02

دپکتیاپه پټان کې سرحدي پولیس په درازکوف وویشتل شو

د پکتیاولایت دپټان ولسوالۍ په متاسنګر سیمه کې یو تن سرحدي پولیس په درازکوف په نښه اوځای په ځای ووژل شول.2012-06-02

په جانیخیل ولسوالۍ بریدترسره شو

دپکتیکاولایت دجانیخیل ولسوالۍ په ودانۍ وسلوال بریدترسره شو، په بریدکې دولسوالۍ ودانۍ تخریب خودمرګ ژوبلې په اړه کره شواهدنه دي ترلاسه شوي. 2012-06-02

جانیخیل کې په پوسته بریدشوی

د پکتیکاولایت دجانیخیل ولسوالۍ په میاکلي کې ددښمن په پوسته دوسلوال بریدپه ترڅ کې دښمن ته تلفات واوښتل خوداوښتو تلفاتوپه هکله کره شواهدنه دي ترلاسه شوي. 2012-06-02

پکتیامرکزته څېرمه ماین 3عسکرمړه اوژوبل کړل

د پکتیاولایت دمرکز ګرځ دېزاړوندپه ابراهیم خیل سیمه کې داجیري اردوپه پلي ګزمه دچاودني له املـه ۱تن عسکر ژوندله لاسه ورکړ او ۲نور یې ژوبل شول .2012-06-03

جانیخیل کې په 2پوستوبریدشوی

د پکتیکاولایت دجانیخیل ولسوالۍ دوې دفاعي پوستې دمجاهدینو تربریدلاندې راغلې، په ترڅ کې یې دپوستووداینوته په زیان اوښتوسرېره دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته خو کره شمېره یې نه ده ترلاسه شوي.2012-06-03

زرمت کې ماین داجیري اردو 3عسکرمړه اوژوبل کړل

دپکتیاولایت دزرمت ولسوالۍ په کولالګوسیمه کې دښځ کړل شوي ماین چاودني داجیري اردو ۱تن عسکر ځای په ځای ووازه او ۲نور یې ژوبل کړل .2012-06-03

زرمت کې دچاپې په مهال 16شغالګروته مرګ ژوبله واوښته

دپکتیاولایت دزرمت ولسوالۍ دګور جي په شیخانوسیمه کې اشغالګر وعسکر هغه مهال له خونړۍ نښتي سره مخ شول کله چې هغوی په سیمه کې په یو کور چاپه ووهله ددنښتي په ترڅ کې ۳تنه اشغالګر عسکر مړه او ۳نور یې ژوبل شول. دیادوني ده په جګړه کې داسلامي امارت 3 تنه مجاهدین دشهادت لوړ مقام ته ور سېدل. اناالله وانا الیه راجعون2012-06-04

دجانیخیل ولسوالۍ ددرنووسلوتر بریدلاندې راغله

دپکتیاولایت دجانیخیل ولسوالۍ په ودانۍ ددرنووسلوبرید تر سره شو، دبریدله امله دولسوالۍ ودانۍ پوره زیانمنه شوه خودمرګ ژوبلې په اړه تراوسه پورې معلومات نه دي ترلاسه شوي. 2012-06-04

زرمت کې 2موټر تخریب 7عسکروته مرګ ژوبله واوښته

دپکتیاولایت دزرمت ولسوالۍ په سور کۍ سیمه کې دیو کمین په ترڅ کې داجیري اردوپه ګزمه وسلوال برید تر سره شو، په ترڅ کې یې ۲رېنجر موټر پوره تخریب، 3 تنه داجیري اردو عسکر مړه او ۴نور سخت ژوبل شول. 2012-04-06

ګرده خېړۍ کې 1ټانګ، 1رېنجر تخریب او 2عسکرووژل شول

دپکتیاولایت دګردي خېړۍ ولسوالۍ په زرغون راغه سیمه کې دګډدښمن په ګزمه دوسلوال برید له امله 1 ټانګ او1 رېنجر موټر له منځه لاړل، او په دې سربېره 1 تن عسکر مړ او3نور یې سخت ژوبل شول.2012-06-04

زرمت کې دیر غلګرو په کمپاین دهاوان برید شوی

دپکتیاولایت په زرمت ولسوالۍ کې دیر غلګر وعسکرو کمپاین دمجاهدینو له لوري دهاوان په 4مرمیوباندې وویشتل شو. په برید دکمپاین ودانۍ زیانمنه شوه خودمرګ ژوبلې په هکله کره شواهدنه دي ترلاسه شوي. 2012-04-06

پکتیامرکزګردېز کې ددښمن په ګزمه بریدوشو

دپکتیاولایت دمرکزګردېز په اړونده په ابراهیم خیل سیمه کې دګډدښمن ګزمه دمجاهدینو تربریدلاندې راغله. دبریدپه مهال دښمن ته داوښتي زیان په هکله کره شواهدنه دي ترلاسه شوي.2012-06-04

ارمه کې دګوډاګیو عسکرو قومندان ژوندی ونیول شو

دپکتیاولایت دارمې ولسوالۍ په شاهي کوټ کلي د۴۰تنو ګوډاګیو عسکرو یو تن قومندان (اکبر جان) له یومیل وسلې، یوې مخابرې اونورواسنادوسره ونیول شو.2012-06-05

لجه منګل ولسوالۍ تربریدلاندې راغله

دپکتیاولایت دلجه منګل ولسوالۍ ودانۍ دسپکواودرنووسلوتربریدلاندې راغله. په برید کې دولسوالۍ ودانۍ اویوموټر تخریب شو، دبرید په مهال ۲مجاهدین سرسر کې ژوبل شول.2012-06-07

پکتیامرکزته څېرمه 5 عسکروخپل ژوندله لاسه ورکړ

دپکتیاولایت دمرکز گردېزاړوندپه تېره سیمه کې یې داجیري اردو په 2 رېنجرموټرانو دوسلوال بریدپه ترڅ کې یوعراده رېنجرموټر تخریب اوڅلورتنه داجیري اردوعسکرووژل شول. 2012-06-07

گردې څېرې کې داجیري اردوپه گزمه بریدوشو

دپکتیاولایت دگردي څېرې ولسوالۍ دپروژې په خوله سیمه کې داجیري اردو گزمه دمجاهدینو تربریدلاندي راغله، دبریدپه مهال 1 تن عسکرمړاو 2 نورژوبل شول. 2012-06-07

زرمت کې دگډدښمن گزمه تربریدلاندي راغله

دپکتیاولایت دزرمت ولسوالۍ په دولت زیوسیمه کې دگډدښمن په گزمه وسلوال بریدترسره شو. په بریدکې دښمن ته درنه مرګ ژوبله اوښتي خوکره شمېره یې نه ده څرګنده شوي. 2012-06-07

زرمت کې دیرغلګروپه کمپاین دهاوان بریدشوی

دپکتیاولایت دزرمت ولسوالۍ تعمیربازار ته نژدې داشغالګروعسکروپه کمپاین دهاوان 4 مرمۍ وار دکمپاین په منځ کې ولګېدې، دبریدله املهٔ دښمن ته داوښتي زیان په هکله کره معلومات نشته. 2012-06-07

پکتیامرکزته نژدې په جلاپېښو کې 4 عسکروژل شوي دي

دپکتیاولایت دمرکزگردېزاړوندپه چوبۍ سیمه کې داشغالګروعسکروپه زغروال ټانګ دښخ کړل شوي ماین درني چاودني ټانګ ویجاړاوپکې سپاره عسکریې 2 تنه ځای په ځای ووژل او 3 نورېې سخت ژوبل کړل. همدارازخبر زیاتوي په یاده سیمه کې په داخلي عسکر ودماین شنډولوپه مهال دوسلوال بریدپه ترڅ کې ۲ تنه عسکر مړه و ۳ تنه نورېې ژوبل شول 2012-06-07

دپکتیاپه مرکزګردېزکې داشغالګروګزمه تربریدلاندي راغله

دپکتیاولایت دګردېزاړوندپه ابراهیم خیل سیمه کې داشغالګروعسکروپه ګزمه وسلوال بریدوشو، دبریدله املهٔ دښمن ته داوښتوتلفاتوپه اړه کره شواهدنه دي ترلاسه شوي. 2012-06-08

پټان کې ماین 6 عسکروته مرګ ژوبلهواړوله

دپکتیاولایت دپټان ولسوالۍ په زرکې کنډوسیمه کې داجیري اردوپه ګزمه دځمکني ماین چاودنه وشوه، خبروایي چاودني 3 تنه عسکر ځای په ځای ووژل او 3 نورېې شدیدټپیان کړل. 2012-06-08

زرمت کې دگډدښمن ګزمه تربریدلاندي راغله

دپکتیاولایت دزرمت ولسوالۍ په جانک خیل سیمه کې دگډدښمن په ګزمه دوسلوال بریدپه مهال دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته خوکره شمېره یې نه ده څرګنده شوي. 2012-06-08

پکتیامرکزته څېرمه چاودني 5 عسکرمړه اوژوبل کړل

دپکتیاولایت دمرکز گردېزاړوندپه چوپۍ سیمه کې داجیري اردوپه رېنجر موټر دښخ کړل شوي ماین چاودني موټر ویجاړاوپکې سپاره عسکر2 تنه مړه او3 نور سخت ژوبل کړل. 2012-06-09

زرمت کې دبریدپه مهال3بهرني عسکر مړه اوژوبل شول

دپکتیاولایت دزرمت ولسوالۍ په دولت زیوسیمه کې داشغالګروعسکروپه ګزمه دوسلوال بریدپه ترڅ کې 1 تن بهرنی عسکرووژل شواو2 نورپې سخت ژوبل شول.2012-06-09

پکتیامرکزته نژدې دپولیسوپوسته تربریدلاندې راغله

دپکتیاولایت دمرکزګردېزمربوط پـه ابـراهیم خیـل سـیمه کـې دګـوډاګۍ اداري دپولیسـو پوسـته دمجاهدینو تربریدلاندې راغله. دبریدله امله دپوستې ودانۍ تخریب خودمرګ ژوبلي په هکله کره شواهدنه دي ترلاسه شوي. 2012-06-09

پکتیامرکزته نژدې داجیري اردوګزمه تربریدلاندې راغله

دپکتیاولایت دولایت دمرکزاړوندپه ابراهیم خیل سیمه کې داجیري اردوپه ګزمه وسلوال بریدتر سره شو،دبریدپه مهال دښمن ته داوښتي مرګ ژوبلي په اړه معلومات نه دي ترلاسه شوي. 2012-06-09

پکتیاکې په جلاپېښوکې 5پولیس ووژل شول

دپکتیاولایت دمرکز ګردېزاړونده په ټپره سیمه کې دګوډاګۍ اداري دپولیسوپه ګزمه دچاودني اووسلوال بریدله امله درېنجر موټرپه ویجاړېدوسربېره 5 تنه پولیس مړه اوګڼ شمېر نور ټپیان شول.2012-06-10

زرمت کې دیر غلګروکمپاین دهشتادو تربریدلاندې راغی

دپکتیاولایت په زرمت ولسوالۍ کې دیرغلګروعسکروپه کمپاین دهشتادوپه۵مرمیو دقیق وویشتل شو ، له امله يې دښمن ته زیان واوښت خوداوښتي زیان په هکله کره شواهدنه دي ترلاسه شوي. 2012-06-10

زرمت کې دیر غلګروکمپاین په هشتادووویشتل شو

دپکتیاولایت دزرمت ولسوالۍ دمموزوپه سیمه کې دیر غلګروعسکروبیس دهشتادوپه4مرمیودقیق وویشتل شو، دبریدله امله دښمن ته داوښتو تلفاتوپه هکله دقیق معلومات نشته. 2012-06-10

پکتیامرکزته نژدې ماین4اشغالګروته مرګ ژوبلهواړوله

دپکتیاولایت مرکزتـه نـژدې دچوپۍ پـه سیمه کې داشغالګروعسکروپه پلي ګزمـه ددرني چاودني لـه امله 2 تنـه 2012-06-11عسکرووژل شول او2 نور شدیدټپیان شول.

شواک کې داجیري اردوموټرپه ماین والوت

دپکتیاولایت دشواک ولسوالۍ پـه شبک تنګي سیمه کې داجیري اردو رېنجر موټرپـه مـاین والوزول شو.چاودني 2012-06-11موټرپوره تخریب کړخودمرګ ژوبلي په اړه پوره معلومات نه دي ترلاسه شوي.

وزي ځدرانې کې ماین 4 عسکروژلي

د پکتیاولایت دوزي ځدرانې ولسوالۍ په غور کې خوله سیمه کې د ګوډاګیو عسکرو په سرف د ځمکني ماین چاودني موټر 2012-06-11 ویجاړ 4 تنه ګوډاګي عسکر ووژل.

پکتیاکې ماین د 3 یر غلګرو ژوندواخیست

د پکتیاولایت دمرکز مربوط په چونې سیمه کې داشغالګرو عسکرو په پلي ګزمه د ځمکني ماین چاودني درې تنه 2012-06-11 بهرني عسکر مړاو ګڼ ټپیان کړل.

ځمکنو کې د پولیسو ګزمه تر بریدلاندي راغله

د پکتیاولایت د ځمکنو ولسوالۍ په سره خوله سیمه کې د سرحدي پولیسو په ګزمه دوسلوال دبریدله امله دښمن ته مرګ ژوبله اوښتي خو په هکله یې معلومات نه دي ترلاسه شوي. 2012-06-11

زرمت کې 5 اشغالګرو ته مرګ ژوبله واوښته

د پکتیاولایت د زرمت ولسوالۍ په کوتیخیل سیمه کې داشغالګرو عسکرو په ګزمه دوسلوال بریدپه مهال ۲ بهرني 2012-06-11 عسکر مړه او ۳ تنه ژوبل شول او په دې سربېره 1 زغروال ټانګ هم پوره تخریب شو.

سیدکرم کې ماین موټر او 3 عسکر له منځه یوړل

د پکتیاولایت د سیدکرم ولسوالۍ په سلام خیل سیمه کې د ګوډاګۍ اداري د پولیسو په رښتجر موټر د ماین د چاودني له امله موټر ویجاړ شواوپکې سپاره عسکر 3 تنه ووژل شول او 3 نور شدید ټپیان شول. 2012-06-11

پکتیامرکزته نژدې 6 عسکرو خپل ژوندله لاسه ورکړ

د پکتیاولایت دمرکز ګردېزاړوندپه ټېره سیمه کې داجیري اردوپه ګزمه دوسلوال بریدپه ترڅ کې 6 تنه 2012-06-12 عسکر ووژل شول او ګڼ نور ژوبل شول.

پټان کې یوتن بهرنی عسکر په درازکوف وویشتل شو

د پکتیاولایت د پټان ولسوالۍ په انزرګي کنډوسیمه کې یوتن بهرنی عسکر دمجاهدینوله خوا په درازکوف وویشتل 2012-06-12 شواوځای په ځای ووژل شو.

زرمت کې داشغالګرو کمپاین دراکټ لانچر تر بریدلاندي راغی

د پکتیاولایت د زرمت ولسوالۍ مرکز ته نژدې داشغالګرو عسکرو کمپاین دمجاهدینوله لوري دراکټ لانچر په 6 مرمیو دقیق وویشتل شو. دبریدله امله دښمن ته داوښتي زیان په هکله دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. 2012-06-12

ځمکنو کې دیر غلګرو په کمپاین دهشتادو بریدشوی

په پکتیاولایت د څمکنوولسوالۍ په شهر نوسیمه کې دیر غلګرو عسکرو کمپاین دهشتاددو په 4 مرمیوي وویشتل شو، 2012-06-13 له املې یې د کمپاین ودانۍ ته په زیان اوښتوسربېره 1 زغروال ټانګ تخریب شو.

پټان کې یوتن عسکر په دراز کوف ووویشتل شو

د پکتیاولایت د پټان ولسوالۍ په انځر ګي کنډوسیمه کې ۱ تن عسکر په دراز کوف په نښه اوځای په ځای ووژل شو 2012-06-13.

وزي ځدران کې ماین 1 عسکروواژه

د پکتیاولایت د وزي ځدرانۍ ولسوالۍ مرکز ته نژدې داجیري اردوپه پلي ګزمه دښخ کړل شوي ماین درنه چاودنه 2012-06-13 ترسره شوه. له املې یې ۱ تن عسکر مړ او ۲ نور سخت ژوبل شول.

زرمت کې دیر غلګرو 2 کمپاینونه په هشتاددوو ویشتل شول

د پکتیاولایت د زرمت ولسوالۍ په سهاکوسیمه کې دیر غلګرو عسکرو کمپاین دهشتاددوپه ۳ مرمیواوپه کولالګو سیمه کې داشغالګروبل کمپاین دهشتاددو په 3 مرمیودقیق ووویشتل شو، دبریدله املې دښمن ته تلفات اوښتي خوپه 2012-06-13 اړه یې دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي.

پټان کې د ګوډاګیو عسکرو قومندان ووژل شو

د پکتیاولایت د پټان ولسوالۍ په تنګي سیمه کې د ګوډاګیو عسکرویو تن قومندان مستوخان دمجاهدینو دغلچکي 2012-06-13 بریدپه ترخ کې ووژل شو.

زرمت کې دیر غلګروپه کمپاین بریدوشو

د پکتیاولایت د زرمت ولسوالۍ کې داشغالګروعسر کوپه کمپاین دهشتاددو او راکټ لانچر بریدترسره شو. له املې 2012-06-14 یې د کمپاین ودانۍ ته په زیان اوښتوسربېره د کمپاین بالون هم په پوره ډول له منځه لاړ.

میرزکه کې 2 موټراو 6 عسکر له منځه لاړل

د پکتیاولایت په میرزکه ولسوالۍ په اندوام سیمه کې داجیري اردوپه یورېنجر موټر چاودنه وشوه اوبیاپرې وسلوال 2012-06-14 بریدوشو. په ترخ کې یې ۲ عرادي رینجر تخریب 6 تنه عسکر مړه او 8 تنه نور سخت ژوبل شول.

زرمت کې داشغالګرو کمپاین په هفتادپنج ووویشتل شو

د پکتیاولایت د زرمت ولسوالۍ مرکز ته نژدې داشغالګروعسکرو کمپاین دهفتادپنج په 3 مرمیو ووویشتل شو. دبریدله املې دښمن ته داوښتي زیان په اړه کره معلومات نشته. 2012-06-15

زرمت کې داشغالګرو کمپاین په هشتاددوو ویشتل شو

د پکتیاولایت د زرمت ولسوالۍ مرکز ته نژدې داشغالګروعسکرو کمپاین دهشتاددو په 2 مرمیودقیق ووویشتل شو، دبریدله املې دښمن ته داوښتي زیان په اړه معلومات نه دي ترلاسه شوي. 2012-06-15

زرمت کې داشغالګروپه کمپاین دهفتادپنج بریدشوی

د پکتیاولایت د زرمت ولسوالۍ د کولالګوپه سیمه کې داشغالګر وعسکرو کمپاین دهفتادپنج په9 مرمیودقیق وویشتل 2012-06-15شوپه بریدکې د کمپاین ودانۍ زیانمنه اوپه دې سربېره یوعراده رېنجرموټرهم ویجاړ شو.

څمکنوکې داشغالګروپه کمپاین میزایل وارشول

د پکتیاولایت د څمکنوولسوالۍ په شهرنوسیمه کې داشغالګر وعسکرو کمپاین په3 میزایلودقیق وویشتل شو، 2012-06-15دبریدله املهٔ دښمن ته داوښتي زیان په اړه کره شواهدنه دي ترلاسه شوي.

څمکنوکې دګوډاګیوعسکروقومندان ووژل شو

د پکتیاولایت د څمکنوولسوالۍ په منداخیل سیمه کې دګوډاګیوعسکروپه ګزمه دوسلوال بریدپه ترخ کې 2012-06-16دیادوسر تېرویوتن قومندان ووژل شواو2 عسکر سخت ژوبل شول.

زرمت کې ماین 5عسکر مړه اوژوبل کړل

د پکتیاولایت د زرمت ولسوالۍ په مموزوسیمه کې دګډدښمن په پلي ګزمه دځمکني ماین چاودني ۲تنه عسکر مړه 2012-06-16او۳نور سخت ژوبل کړل.

زرمت : داشغالګروکمپاین په هشتادوویشتل شو

د پکتیاولایت د زرمت ولسوالۍ په مموزوسیمه کې داشغالګر وعسکرو کمپاین دهشتادوپه ۲مرمیو وویشتل 2012-06-16شو،دبریدله املهٔ دښمن ته داوښتي زیان په اړه تردم ګړۍ کره شواهدنه دي ترلاسه شوي.

پکتیامرکزته څېرمه 4عسکرووژل شول

د پکتیاولایت دمرکزاړوندپه ابراهیم خیل سیمه کې دګډدښمن په پلي ګزمه وسلوال بریدتر سره شو ،په ترخ کې 2012-06-16پي 4 تنه عسکرووژل شول او5 نور سخت ژوبل شول. په جګړه کې 2 تنه مجاهدین سرسر کې ټپیان شول

احمدخیل ولسوالۍ تربریدلاندي راغله

د پکتیاولایت داحمدخیل ولسوالۍ ودانۍ دمجاهدینولهٔ لوري دسپکواودرنووسلوتربریدلاندي راغله. په ترخ کې پي دولسوالۍ ودانۍ ته په زیان اوښتوسربېره دښمن ته درنه مرګ ژوبلهٔ واوښته خوکره شمېره يې نه ده څرګنده 2012-06-16شوي.

پکتیامرکزته څېرمه په ټانګ چاودني 3عسکروژلي

د پکتیاولایت مرکز ته نژدې په تېره سیمه کې داجیري اردوپه زغرال ټانګ دځمکني ماین دزوروري چاودني له 2012-06-16املهٔ داجیري اردو 3 تنوعسکروخپل ژوندله لاسه ورکړاوګڼ نورپي شدیدټپیان شول

جانیخیل ولسوالۍ تربریدلاندي راغله

د پکتیاولایت دجانیخیلو ولسوالۍ دمجاهدینولـه لـوري دسپکواودر نووسـلو تربریدلاندي راغلـه. دبریدلـه املـه دولسوالۍ ودانۍ تخریـب شوه خوپکې مېشتوعسـکروته داوښـتي مـرګ ژوبلي پـه اړه کـره شـواهدنه دي ترلاسـه شوي.2012-06-18

میرزکه کې مجاهدینو2عسکرژوندي ونیول

د پکتیاولایت د میرزکه ولسوالۍ په چورړاکي سیمه کې دګودامګیوعسکروپه ګزمه دوسلوال بریدپـه ترڅ کې 1 تن 2012-06-18عسکر سخت ټپي شواو2 نورژوندي ونیول شول. مجاهدینوپه جګړه کې ۳میله وسله غنیمت کړه.

سیدکرم کې چاودني4عسکرمړه اوژوبل کړل

دپکتیاولایت د سید کرم ولسوالۍ پـه عـالم ګي سیمه کې داخلي عسـکرو پـه رینجرموټر چاودنـه وشوه، خبروایي 2012-06-18چاودني موټرله منځه یووړ اوپکي ناست عسکریې 2 تنه ووژل او2یې شدیدټپیان کړل.

زرمت کې څارګره الوتکه راوغورځول شوه

دپکتیاولایت د زرمت ولسوالۍ دمموزوپه سیمه کې داشغالګروعسکرو کشفي الوتکه دځارپه حال کې دمجاهدینوله 2012-06-18خواوویشتل شوه او راوغورځول شوه.

په جانیخیل ولسوالۍ ددرنووسلوبریدوشو

د پکتیکاولایـت دجانیخیـل دولسوالۍ ودانۍ دهـاوان پـه6 اودهشـتادوپـه4 مرمیودقیـق وویشـتل شوه. خبروایي 2012-06-18دبریدله املـه دولسوالۍ ودانۍ ته په زیان اوښتوسربېره 4 تنه عسکر سخت ټپیان شول.

زرمت کې په جلاپېښو کې4عسکراویوټانک له منځه لاړ

دپکتیاولایت د زرمت ولسوالۍ په ګلدادخیل سیمه کې داشغالګروعسکروپه پلي ګزمه زورورهچاودنه وشوه چې لـه املـه یې4 تنـه عسـکر ځای پـه ځـای ووژل شول او5 سـخت ژوبـل شـول. وروسـته ددښـمن پـه موټریزه ګزمـه دوسـلوال 2012-06-19بریدپه ترڅ کې یوزغروال ټانک تخریب شو خو دمرګ ژوبلي کره شمېره نه ده څرګنده شوي.

جانیخیل کې په ټانک چاودني3عسکرووژل

دپکتیاولایت دجانیخیل ولسوالۍ په بابوخیل سیمه کې داشغالګروعسکروپه زغروال ټانک دچاودني لـه املـه ټانـک 2012-06-19په پوره ډول تخریب اوپکې سپاره 3 تنه عسکرووژل شول.

زرمت کې په ټانک چاودني 6اشغالګروته مرګ ژوبله واړوله

دپکتیاولایت دزرمت ولسوالۍ په کولالګوسیمه داشغالګروعسکرودګزمې په زغروال ټانک دځمکنې مـاین چـاودني 2012-06-19ټانک بشپړ ویجاړ، ۳تنه عسکر مړه او ۳تنه نور سخت ژوبل کړل.

زرمت کې داشغالګروپه کمپاین دهفتادپنج بریدشوی

دپکتیاولایت د زرمت ولسوالۍ په سهاکوسیمه کې داشغالګروعسکرو کمپاین دهفتادپنج په6 مرمیو وویشتل شو، 2012-06-19دبریدله املهدښمن ته داوښتي زیان په اړه معلومات نه دي ترلاسه شوي.

جانیخیل کې 1ټانک او3یر غلګر له منځه لاړل

دپکتیکاولایت د جانیخیل ولسوالۍ دبابوخیلوپه سیمه کې دیر غلګروعسکروپه موټریزه ګزمه دوسلوال بریدپه ترخ کې یوزغروال ټانګ تخریب، ۳تنه عسکر مړه او ۲نور سخت ژوبل شول.2012-06-19

جانیخیل ولسوالۍ تربریدلاندي راغله

دپکتیاولایت دجانیخیل ولسوالۍ ودانۍ دهشتاددوپه6 مرمیودقیق ووښتل شوه. دبریدله املهدښمن ته داوښتي زیان په اړه کره شواهدنه دي ترلاسه شوي.2012-06-19

پټان کې 7عسکروته مرګ ژوبله اوښتې

دپکتیاولایت د پټان ولسوالۍ په تنګي سیمه کې دګډدښمن په ګزمه دوسلوال بریدپه ترخ کې 3 تنه عسکرووژل شول 2012-06-20او4نور سخت ژوبل شول.

زرمت کې مجاهدینوچورلکه راوغورځوله

دپکتیاولایت دزرمت ولسوالۍ په دولت زیوسیمه کې داشغالګروعسکرویوه چورلکه چې په ټیټه فضاکې روانه وه دمجاهددینو له لوري په دهشکه ووښتل شوه ،چورلکې هڅه وکړه چې دولایت مرکز ګردېز ته خپلې غټې قرارګاه ته ځان ورسوي خو دمرکزاړوندپه ابراهیم خیل سیمه کې رانسکوره شوه. په چورلکه کې سپاره عسکرټول ووژل شول 20-06-2012.

پکتیامرکزته ځپرمه ماینونو2موټرویجاړاودقومندان په ګډون4پولیس ووژل

دپکتیاولایت دمرکزګردېزپه اړونده سیمه کې دپولیسوپه رېنجرموټر دچاودني له امله رینجر ویجاړ ،دقومندان په ګډون ۴تنه عسکر مړه او۲نور ژوبل شول ،همداډول په یاده سیمه کې یوې بلې چاودني دپولیسورېنجرموټر 2012-06-20ویجاړاوپکې سپروعسکروته یې مرګ ژوبله واړوله خوکره شمېره یې نه ده څرګنده شوي.

شواک کې 2ټانګونه او3یر غلګر له منځه تللي

دپکتیاولایت د شواک ولسوالۍ په ستوکنډوسیمه کې دیر غلګروعسکروپه موټریزه ګزمه وسلوال بریدترسره 2012-06-20شو. دبریدپه ترخ کې ۲زغروال ټانګونه تخریب 3 تنه بهرني عسکر مړه او4 نورشدیدټپیان شول.

پکتیامرکزته نژدې ماین موټراو2عسکرله منځه یوړل

دپکتیاولایت دمرکزګردېزاړونده دتېرې سیمې دغفورخیلوپه کلي کې داجیري اردوپه رېنجرموټرچاودنه وشوه،له 2012-06-21املهیې موټر تخریب،2 تنه عسکر مړه او3 تنه نور ژوبل شول.

احمدابادولسوالۍ په میزایلووویشتل شوه

دپکتیاولایت داحمدابادولسوالۍ په ودانۍ 4 میزایل وار او په ټاکلي هدف ولګېدل خولې املې یې دښمن ته 2012-06-21 داوښتو تلفاتو په اړه کره شواهدنه دي ترلاسه شوي.

ځائي اریوب کې په کمپاین دهاوان بریدشوی

دپکتیاولایت په ځائي اریوب ولسوالۍ کې داشغالګرو عسکرو کمپاین دهاوان په 5 مرمیو دقیق وویشتل شو، 2012-06-21 دبریدله املې دښمن ته داوښتي زیان په اړه شواهدنه دي ترلاسه شوي.

زرمت کې په ټانګ چاودنې 3 یرغلګروژلي

دپکتیاولایت د زرمت ولسوالۍ په موزوسیمه کې دیر غلګرو عسکرو زغروال ټانګ په ماین والوزول شو. دچاودنې له 2012-06-23 املې ټانګ ویجاړشواوپکې سپاره عسکر 3 تنه مړه او 3 تنه نورې شدیدټپیان شول.

ګردې ځېړۍ کې په پوسته برید، 2 پولیس ووژل شول

د پکتیاولایت دګردې ځېړۍ دولسوالۍ مرکز ته نژدې دپولیسوپه پوسته دوسلوال بریدپه ترڅ کې دولسوالۍ ودانۍ ته په زیان اوښتوسربېره 2 تنه پولیس ووژل شول اوګڼ نور ټپیان شول.2012-06-23

شواک کې 1 ربړبنجرو سوځول شواو 2 عسکرژوندي ونیول شول

دپکتیاولایت د شواک ولسوالۍ په ستوکنډوسیمه کې داجیري اردوپه موټریزه ګزمه وسلوال بریدترسره شو، دبریدپه ترڅ کې 1 عراده ربړبنجرموټرپوره تخریب او دوه تنه عسکرپې له خپلووسلوسره ژوندي ونیول .2012-23-06

جانیخیل کې ددښمن په موټریز کاروان بریدترسره شو

د پکتیکاولایت دجانیخیل ولسوالۍ په اروا ړه سیمه کې دګډدښمن په موټریز کاروان دوسلوال بریدپه ترڅ کې 2012-06-23 دښمن ته مالي اوځاني زیان واوښت خوداوښتي زیان په اړه کره شواهدنه دي ترلاسه شوي.

جانیخیل کې اشغالګرو 8 ملکي وګړي بندیان کړل

دپکتیاولایت دجانیخیل ولسوالۍ په بل خیل سیمه کې اشغالګرو عسکرو دعاموخلکوپه کورونوچاپه ووهله، وحشي 2012-06-23 اشغالګرودخلکوپه کورونو کې له بې رحمانه تلاشي وروسته 8 تنه مظلوم کلیوال له ځان سره یووړل.

پټان کې جلاچاودنو 5 عسکر له منځه وړي

دپکتیاولایت دپټان ولسوالۍ په ځینګرخیل سیمه کې داجیري اردوپه ربړبنجرموټر چاودنه وشوه، خبروایي کله چې 2012-06-24 نورعسکر سیمې راغلل بله چاودنه پرې وشوه په دواړوچاودنو کې 5 تنه عسکر مړه او 5 تنه نورې ژوبل شول

سیدکرم کې ماین 5 عسکروته مرګ ژوبله واړوله

دپکتیاولایت د سید کرم ولسوالۍ په کوندر خیل سیمه کې داجیري ارد وپه رېنجر موټر چاودني موټر پوره تخریب
2012-06-24،اوپکې سپاره عسکریې ۲تنه مړه او ۲تنه سخت ژوبل کړل.

زرمت کې داشغالګروپه کمپاین دهفتادپنج بریدوشو

دپکتیاولایت د زرمت ولسوالۍ په کولالګوسیمه کې داشغالګروعسکرو کمپاین دهفتادپنج په5 مرمیودقیق
2012-06-25وویشتل شو،خو دبریدله املهدښمن ته داوښتي زیان په اړه تر اوسه پوري دقیق معلومات نشته.

شواک کې چاودني 3عسکر مړه اوژوبل کړل

دپکتیاولایت د شواک ولسوالۍ په شبک تنګي سیمه کې داجیري ارد و رېنجر موټر په ماین والوزاول شو. دخبرله
2012-06-25قرارہ موټر په پوره ډول ویجاړ،1 تن عسکر ووژل شواو ۲نور شدیدټپیيان شول.

ځائي اریوب کې چاودني د6عسکرو ژوندواخیست

دپکتیاولایت د ځائي اریوب ولسوالۍ په سپینه شګه سیمه کې دسرحدي پولیسوپه رېنجر موټر دځمکني ماین
2012-06-26دچاودني له املهموټر بشپړ تخریب ۶تنه سرحدي پولیس ووژل شول.

دپکتیاپه پتان کې 15عسکراو6رېنجر له منځه لاړل

دپکتیاولایت د پتان ولسوالۍ په سلتکوسیمه کې داجیري ارد واو پولیسوپه موټریز کاروان دوسلوال بریدپه ترڅ کې
۶عرادې رینجر موټر تخریب،۱۵تنه عسکر مړه او۱۰ تنه نوریې ژوبل شول.په جګړه کې داسلامي امارت2 تنه
. 2012-06-26 مجاهدین دشهادت لوړمقام ته ورسېدل اوپوټپي شو.اناللهوانااليه راجعون

پکتیامرکزته خبرمه په بریدکې5عسکرووژل شول

د پکتیاولایت دمرکز ګرډېزاړوند د تېرې په اود کې خوله سیمه کې دداخلي عسکروپه رېنجر موټر دوسلوال بریدله
2012-06-26املهموټر په مکمل ډول تخریب اوپکې سپاره ۵ تنه عسکر ځای په ځای ووژل شول.

څمکنوکې په اکمالاتي کاروان بریدوشو

دپکتیاولایت دځمکنود ولسوالۍ شهرنوته نژدې یرغلګروته دلیږدپه کاروان وسلوال بریدترسره شو، دبریدپه ترڅ
2012-06-26کې د کاروان ګڼ تعدادموټران تخریب اود کاروان ساتونکوعسکروته درنه مرګ ژوبله واوښته.

لجه منګل ولسوالۍ اودیر غلګروپه ګزمه بریدوشو

د پکتیاولایت دلجه منګل ولسوالۍ په ودانۍ او دیادي ولسوالۍ په عمومي سرک داشغالګروعسکروپه ګزمه وسلوال
بریدترسره شو،دخبرله مخي په دواړوبریدونوکې دښمن ته درانه تلفات واوښتو خوداوښتو تلفاتوپه هکله دقیق
2012-06-26معلومات نه دي ترلاسه شوي.

احمدخیل کې2سرف موټرویجاړاو4عسکرووژل شول

د پکتیاولایت د احمدخیل ولسوالۍ مرکز ته نژدې په عمومي سرک د ګودا ګیو عسکرو په ګزمه دوسلوال برید په مهال 42012-06-26 تنه عسکر ووژل شول او 5 نور سخت ژوبل شول، په دې سربېره 2 سرف موټر په بشپړه توګه له منځه لاړل.

پکتیامرکزته څېرمه ماین 5 عسکر مړه اوژوبل کړل

د پکتیاولایت دمرکز ګردېزاړوندپه ابراهیم خیل سیمه کې داجیري اردوپه پلي ګزمه کې دځمکني ماین چاودني 2012-06-27 داجیري اردو ۳ تنه عسکر ځای په ځای مړه او 2 نورېې شدیدټپیان کړل.

زرمت کې داجیري اردو 3 عسکر ووژل شول

د پکتیاولایت د زرمت ولسوالۍ په ګلدادخیل سیمه کې داجیري اردو په پلي ګزمه دبرید په مهال 3 تنه عسکر مړه 2012-06-27 او ګڼ نور عسکر ټپیان شول.

سیدکرم کې 3 پولیسوته مرګ ژوبله واوښته

د پکتیاولایت د سیدکرم ولسوالۍ په علمګي سیمه کې د پولیسو ګزمه دمجاهدینو تربریدلاندې راغله، دبرید په 2012-06-27 ترڅ کې 1 تن پولیس ووژل شو او 2 نور شدیدټپیان شول.

ځمکنو کې چاودنې 9 اشغالګروته مرګ ژوبله واړوله

د پکتیاولایت د ځمکنو ولسوالۍ په شهر نوسیمه کې داشغالګرو په پلي ګزمه دښخ کړل شوي ماین دچاودنې له امله 4 2012-06-27 تنوعسکروخپل ژوندله لاسه ور کړاو 5 تنه نورېې سخت ټپیان شول.

پټان کې ماین موټر او 4 عسکر له منځه یوړل

د پکتیاولایت د پټان ولسوالۍ په شپولي خوله سیمه کې دسرحدي پولیسوپه ړېنجر موټر چاودني موټر تخریب،4 تنه پولیس مړه او 2 تنه نورېې سخت ټپیان کړل .012-06-27

ګرده څېړۍ کې ماین د 3 عسکرو ژوندواخیست

د پکتیاولایت د ګرده څېړۍ ولسوالۍ دمیراجان دوکانوپه سیمه کې داجیري اردوپه ړېنجر موټر دځمکني ماین 2012-06-27 درنه چاودنه وشوه، له امله یې موټر بشپړ ویجاړ ۳ تنه عسکر مړه او ۳ تنه نورېې سخت ژوبل شول.

پکتیامرکزته څېرمه ماین 3 پولیس ووژل

د پکتیاولایت ومرکز ګردېزته نژدې د پولیسوپه ړېنجر موټر کې دښخ کړل شوي ماین چاودني موټر تخریب او ۳ تنه 2012-06-27 پولیس ووژل.

ځمکنو کې د ګډ دښمن په ګزمه برید وشو

د پکتیاولایت د ځمکنو ولسوالۍ په شهر نوسیمه کې د ګډ دښمن ګزمه دمجاهدینو تربریدلاندې راغله، په برید کې 2012-06-27 دښمن ته داوښتو تلفاتو په هکله تر دم ګړۍ دقیق معلومات نشته.

پکتیاکې 3 جلاچاودنو 7 عسکرووژل

لومړۍ چاودنه د مرکز ګرډیز کې داستخبارا تودریاست ودانۍ ته څېرمه رامنځته شوه چې له املـه یې 2 تنو موټروشوه چې له پولیسوخپل ژوندله لاسه ور کړ. دوهمه چاودنه دابراهیم خیلوپه سیمه کې داجیري اردوپه رېنجر املـه یې موټرپه بشپړه توګه ویجاړ، ۳ تنه داجیري اردوعسکر ځای په ځای ووژل شول او ګڼ نور ټپیـان شول. درېیمه چاودنه هم دمرکز ګرډیزاړوندپه شیخانوسیمه کې داجیـري اردوپه پلي ګزمه وشوه، چاودني داجیـري اردو2 تنه 2012-06-28عسکر ځای په ځای ووژل.

سیدکرم کې یوتن عسکر له مجاهدینوسره یوځای شو

دپکتیاولایت په سیدکرم ولسوالۍ کې یوتن عسکر نظرجان دمحراب الدین زوی له مجاهدینوسره یوځای شو اوخپلـه 2012-06-28 یومیل وسله یې مجاهدینوته تسلیم کړه.

ګردې څېړۍ کې 2 ټانګونه او 3 یرغلګر له منځه لاړل

د پکتیاولایت د ګردې څېړۍ ولسوالۍ په حیات الله فدایي سیمه کې دیرغلګروپه موټریزه ګزمه دوسلوال بریدپه 2012-06-29مهال 2 زغروال ټانګونه تخریب، 3 تنه بهرني عسکر مړه او4 نورشدیدټپیان شول.

څمکنو کې دیرغلګروپه کمپاین دمیزایلواوهاوان بریدوشو

د پکتیاولایـت دځمکنو ولسوالۍ په شهرنوسیمه کې دیرغلګرو کمپـاین په 3 میزایلو او دهاوان په 5 مرمیودقیـق 2012-06-29وویشتل شو. په دواړو بریدونو کې دښمن ته داوښتي زیان په اړه معلومات نه دي ترلاسه شوي.

پټان کې ددښمن په ګزمه بریدوشو

دپکتیاولایـت دپټـان ولسوالۍ دنري کنډوپـه سیمه کې دسرحدي پولیسوپه ګزمـه وسلوال بریدترسره شو. پـه 2012-06-29بریدکې دښمن ته داوښتي مرګ ژوبلي په اړه معلومات نه دي ترلاسه شوي.

پکتیامرکزته نژدې چاودني 3 عسکرووژل

د پکتیاولایت دګردیزاړوندپه تیره سیمه کې داجیري اردوپه رېنجرموټر دځمکني مـاین چـاودني موټر ویجاړ3 تنه 2012-06-29عسکرمړه او ۴تنه نورې سخت ژوبل کړل.

څمکنو کې یوتن عسکرپه دراز کوف وویشتل شو

دپکتیاولایت د څمکنو ولسوالۍ په شهرنوپه سیمه کې یوتن ګودااګی عسکر دمجاهدینولـه خوا پـه دراز کوف پـه ښښه 2012-06-30اوځای په ځای ووژل شو.

پکتیامرکزته نژدې په پوسته برید، 4 پولیس وژل شوي

دپکتیاولایت دمرکزګردیزاړوندپه غلګي سیمه کې دګودااګی اداري دپولیسوپه پوسـته وسلوال بریدترسره شو. پـه 2012-06-30بریدکې دپوستې ودانۍ پوره تخریب، 4 تنه پولیس مړه او4 نورشدیدټپیان شول.

احمدخیل کې 7 عسکروته مرګ ژوبله اوښتي

د پکتیاولایت داحمدخیل ولسوالۍ په مشکه سیمه کې دیر غلګروعسکروپه ګزمه وسلوال بریدترسره شو. په ترڅ 2012-06-30 کې یې ۲ زغروال ټانګونه تخریب 3 تنه بهرني عسکر مړه او ۴ نور شدیدټپیان شول.

وزي ځدران کې ماین د 3 عسکروژوندواخیست

د پکتیاولایت د وزي ځدرانۍ ولسوالۍ په لټو تیګه سیمه کې دځمکني ماین چاودني داجیري اردو درې ننه عسکر د پلې 2012-06-30 ګزمې په مهال مړه اوګڼ نور ژوبل کړل.

زرمت کې مجاهدینو داشغالګرو دځار 2 کمرې، 5 ځانګړي بېټرۍ اولېزر غنیمت کړل

د پکتیاولایت د زرمت ولسوالۍ زرګر ګودر په سیمه کې چې دولسوالۍ دمرکزي کمپاین په 200 متري کې پر ته ده مجاهدینو داشغالګروعسکرو دوه کمرې چې دشپې لـه مخـې هـم دځار صـلاحیت لـري اودهغوپنځـه بېټـرۍ 2012-06-30 اوېولېزر غنیمت کړل.

پکتیکا

یوسف خیل ولسوالۍ په هشتاددوو ویشتل شوه

د پکتیکاولایت دیوسف خیل ولسوالۍ ودانۍ دهشتاددو په 6 مرمیودقیقه وویشتل شوه ، له املـه یې ودانۍ زیانمنه خودمرګ ژوبلې په اړه یې کره معلومات نه دي ترلاسه شوي. 2012-06-01

خیرکوټ کې په پوسته برید، 6 عسکروته مرګ ژوبله اوښتي

د پکتیکاولایت د خیر کوټ ولسوالۍ په ملیز سیمه کې ددښمن پوسته دمجاهدینو تر بریدلاندې راغله، په ترڅ کې یې ۱ رینجر اودپوستې ودانۍ تخریب او ۶ تنه عسکر مړه اوژوبل شول. 2012-06-01

تروه کې په ټانګ چاودني 5 اشغالګروژلي

د پکتیکاولایت په تروه ولسوالۍ کې مربوزي کلي ته نژدې داشغالګروعسکروپه زغروال ټانګ دځمکني ماین دچاودني له املـه ټانګ ویجاړ او 5 تنه بهرني عسکر ووژل شول. 2012-06-03

ګومل کې چاودني 3 یر غلګروووژل

د پکتیکاولایت دګومل ولسوالۍ په شنه توی سیمه کې دیر غلګروعسکروپه زغروال ټانګ دځمکني ماین ددرني چاودني له املـه ټانګ پوره ویجاړ اوپکې سپاره ۳ تنه بهرني عسکر ووژل شول. 2012-06-03

جانیخیل کې 5 عسکروته مرګ ژوبله واوښته

د پکتیکاولایت دجانیخیل ولسوالۍ په بابوخیل سیمه کې یې دګډدښمن په ګزمه دوسلوال بریدترڅ کې 2 تنه عسکر مړه او 3 نور شدیدټپیان شول. 2012-06-04

یحی خیل کې ماین ډګوډاګیو عسکرو قومندان ووایژه

د پکتیکاولایت د یحی خیل ولسوالۍ په مټاخیل سیمه کې د ځمکنۍ ماین چاودنې د ګوډاګیو عسکرو قومندان (بادر شاه) د پیاده ګزمې په مهال ووایژه. 2012-06-04

خوشامند کې 1 ټانګ او 8 عسکر له منځه تللي

د پکتیکاولایت د خوشامندولسوالۍ په جمجمه کلي کې داجیري ارډوپه رېنجر موټر انو وسلوال برید تر سره شو ،د برید په مهال یو ټانګ ویجاړ ۸ تنه داجیري ارډوعسکر مړه او ګڼ نور ژوبل شول. 2012-06-06

خیر کوټ کې 2 ګوډاګي عسکر ووژل شول

د پکتیکاولایت د خیر کوټ ولسوالۍ په پائنده خیل سیمه کې دوه تنه په موټر سایکل سپاره د ګوډاګۍ اداري عسکر دوسلوال برید په ترڅ کې ځای په ځای ووژل شول. 2012-06-06

یحی خیل کې ماین ټانګ ویجاړ او 8 عسکر ووژل

د پکتیکاولایت د یحی خیل ولسوالۍ په غیب خیل سیمه کې داجیري ارډوپه ټانګ د ځمکنۍ ماین چاودنه وشوه، په چاودنه کې ټانګ ویجاړ او پکې سپاره ۸ تنه عسکر ټول ووژل شول. 2012-06-06

سروبي کې پوسته فتحه او 3 عسکر ژوندي ونیول شول

د پکتیکاولایت د سروبي ولسوالۍ په ناړي سیمه کې د دښمن پوسته له لږ مقاومت ورروسته فتحه شوه. په پوسته دبرید په مهال ګڼ شمېر عسکر وژل شول او 3 تنه یې له وسلې سره ژوندي ونیول شول. مجاهدینو په پوسته کې 11 کلاشنکوفونه، یو میل پیکا او ګڼ نور مهمات دغنیمت په توګه ترلاسه کړل. 2012-06-07

اومنه کې داجیري ارډوپه پوسته دهاوان بریدوشو

د پکتیکاولایت د اومنه ولسوالۍ په سواکې سیمه کې داجیري ارډوپ پوسته دهاوان په 10 مرمیو ووېشتل شوه، له امله یې د پوستې ودانۍ ته په زیان اوښتوسربېره دښمن ته درنه مرګ ژوبله واوښته. 2012-06-07

خیر کوټ کې د چاودنې له امله 9 عسکر وته مرګ ژوبله واوښته

د پکتیکاولایت د خیر کوټ ولسوالۍ په الوخیل سیمه کې د ګوډاګۍ ارډوپه رېنجر موټر د چاودنې له امله موټر ویجاړ ۴ تنه عسکر مړه او ۵ نور ژوبل شول. 2012-06-08

خیر کوټ کې چاودنې 5 عسکر ووژل

د پکتیکاولایت د خیر کوټ ولسوالۍ په بالوخیل سیمه کې داجیري ارډوپه رېنجر موټر د ځمکنۍ ماین چاودنې 5 تنه عسکر ووژل او موټر یې پوره ویجاړ کړ. 2012-06-08

خوشامندو لسوالۍ او دفاعي پوسته تر بریدلاندې راغلې

د پکتیاولایت دخوشامندولسوالۍ په ودانۍ اودفاعي پوسته دوسلوال بریدپه ترڅ کې دولسوالۍ اودفاعي پوستې ودانۍ پوره زیانمني شوي خودمرګ ژوبلي کره شمېره نه ده څرګنده شوي. 2012-06-09

اومنه کې ددښمن پوسته په هاوان وویشتل شوه

د پکتیکاولایت داومنه ولسوالۍ په سواکې سیمه کې ددښمن پوسته دمجاهدینولـه لوري دهاوان پـه10 مرمیودقیق 2012- وویشتل شوه،له املـه یې دپوستې ودانۍ تخریـب خودمرګ ژوبلي پـه اړه معلومـات نه دي ترلاسـه شوي. 10-06

زیړوک کې داشغالګروپه کمپاین ددرنووسلوبریدشوی

عسکرو کمپـاین دهاوان پـه 3 مرمیـواو3 میزایلودقیـق وویشـتل لګرو د پکتیکاولایت په زیړوک ولسوالۍ کې داشغا شو.خودښمن ته داوښتي زیان په هکله معلومات نشته. 2012-06-10

خیرکوټ کې دیرغلګروپه کمپاین میزایل وارشول

دپکتیکاولایـت پـه خیرکـوټ ولسـوالۍ کـې دیرغلګروعسـکروپه کمپـاین ۱۲میزایـل وارواوپـه ټاکـل شـوي هـدف ولګېدل،په بریدکې دښمن ته داوښتي مرګ ژوبلي کره شمېره نه ده څرګنده شوي. 2012-06-10

وازه خواکې دسرحدي پولیسوقومندان سخت ټپي شو

دپکتیکاولایت دوازي خواولسوالۍ په شخیلوسیمه کې دسرحدي پولیسوپه ګزمه دښځ کړل شوي مـاین چاودنه 2012-06-11وشوه، دچاودني له املـه یوتن قومندان چې مرویس نومېږي سخت ټپي شو.

مټاخان کې8عسکروژوندله لاسه ورکړ

د پکتیکاولایت دمټاخان ولسوالۍ په پټاخان کلي کې داجیري اردو دعسکروپه موټریزه ګزمه دوسلوال بریدپـه ترڅ کې یوټانګ اویو رینجر موټر ویجاړ ۸تنه داجیري اردو عسکر مړه اوګڼ نور ژوبل شول.2012-06-11

ارګون کې داشغالګروپه کمپاین میزایل وارشول

دپکتیاولایت په ارګون ولسوالۍ کې داشغالګروعسکرو کمپـاین پـه4 میزایلو وویشـتل شو.دبریدله املـه دښـمن تـه 2012-06-11داوښتوتلفاتوپه هکله کره شواهدنه دي ترلاسه شوي.

اومنه کې ماین پاک ټانګ دماین خوراک شو

عسکروپه مـاین پـاک ټانګ زورروري چـاودني ټانګ ویجـاړاوپکې لګرو دپکتیکاولایت په اومنه ولسوالۍ کې داشغا 2012-06-11سپاره2 تنه عسکرووژل.

پکتیکامرکزته نژدې اکمالاتي موټردماین خوراک شو

د پکتیکاولایت دمرکزښرني اړوندددغزني پـه عمومي سرک داکمـالاتي کـاروان یو کانټینر موټرپـه مـاین والوزول شو. 2012-06-12خبروایي په چاودنه کې موټرویجاړ، یوتن موټروان اویوتن عسکروو وژل شول.

سر حوضه کې 4 ګودامګي عسکرووژل شول

دپکتیکاولایت د سر حوضه ولسوالۍ په شاتوروسیمه کې څلور تنه ګودامګي عسکر دخپلې پوستې مخته دوسلوال 2012-06-12 بریدپه ترڅ کې ووژل شول.

یحی خیل کې په ټانک چاودنې 3 یر غلګر ووژل

دپکتیاولایت د یحی خیل ولسوالۍ په میس کلاسیمه کې دیر غلګر وعسکر وپه زغروال ټانک چاودنه وشوه، له املې یې 2012-06-13 ټانک ویجاړ او درې تنه عسکر ووژل شول.

تروه کې ددښمن په مرکز میز ایل وار شول

د پکتیکاولایت د تروه ولسوالۍ په مچه داد کلا کې داشغالګر وعسکر وپه مرکز ۶ میز ایل وار شول. دبریدله املې ددښمن 2012-06-13 ته داوښتې زیان په هکله کره شواهدنه دي ترلاسه شوي.

سر حوضه کې چاودنې 7 عسکر ووژل

دپکتیکاولایت د سر حوضې ولسوالۍ په کمر نومي سیمه کې د ګودامګیو عسکر وپه ربنجر موټر دماین چاودنه وشوه، 2012-06-13 خبر وایې چاودنې موټر په بشپړه توګه ویجاړ اوپکې سپاره ۷ تنه عسکر ووژل.

برمل کې جلاچاودنو 2 ټانګونه او 6 عسکر له منځه یووړل

دپکتیکاولایت د برمل ولسوالۍ په شمال تنګې سیمه کې دیر غلګر وعسکر وپه ۲ زغروالوټانګونودر نوچاودنوله املې 2012-06-14 دواړه ټانګونه تخریب، اوپکې سپاره ۶ تنه بهرني سر تیري مړه او ۳ تنه یې سخت ژوبل شول.

سر حوضه کې په ټانک چاودنې 4 یر غلګر ووژل

د پکتیاولایت د سر حوضه ولسوالۍ په شوی کمر سیمه کې داشغالګر وعسکر وپه زغروال ټانک زورورې چاودنې ټانک ویجاړ او ۴ تنه یر غلګر ووژل. 2012-06-15

په اومنه ولسوالۍ دهفتادپنج بریدزیان واړاوه

دپکتیکاولایت داومنه ولسوالۍ ودانۍ هغه مهال دهفتادپنج په ۵مر میوویشتل شوه چې دولسوالۍ ودانۍ ته تقریبا 60 ټانګونه اشغالګر عسکر دامنیه قومندان دټاکلو په موخه راغلي وو، په برید کې یوزغروال ټانک تخریب ۱ تن بهرنی 2012-06-15 عسکر ووژل شواو ۲ نور ژوبل شول.

سر حوضه کې په ټانک چاودنې 4 یر غلګر ووژل

دپکتیکاولایت د سر حوضې ولسوالۍ په شوی کمر سیمه کې دبهرنیو عسکرو د ګزمې په ټانک دچاودنې له املې ټانک 2012-06-15 تخریب اوځلور تنه بهرني عسکر ووژل شول.

یحی خیل کې ماین ټانک او 3 یر غلګر له منځه یووړل

د پکتیکاولایت د یحی خیل ولسوالۍ په غیب خیل سیمه کې دیر غلګر وعسکر وپه ټانګ دښخ کړل شوي مایں چاودنې 3 تنه بهرني عسکر ووژل. اوپه دې سرییره ټانګ هم پوره ویجاړ شو.2012-06-16

سر حوضه کې چاودنې 5 عسکر وژلې

د پکتیکاولایت د سر حوضه ولسوالۍ د سر حوضې اومارزکود کلي تر منځ سیمه کې داجیري اردوپه رینجر موټر 2012-06-16 د ځمکنې مایں دچاودنې له امله موټر تخریب اوپکې سپاره ۵ تنه عسکر ووژل.

سر حوضه کې په جلاپېښو کې 10 پولیس وژل شوي

د پکتیاولایت د سر حوضه ولسوالۍ د پېړ او او کوټنۍ سیمو تر منځ د ګوډاګۍ اداري د پولیسو په پلي ګزمه دمجاهدینوله خوا لومړی چاودنه اوبیاتر وسلوال بریدوشو، په دواړو پېښو کې ۱۰ تنه عسکر مړه اوګڼ نور ژوبل شول .2012-06-16

اومنه کې دیر غلګر وپه ګزمه بریدوشو

د پکتیکاولایت داومنه ولسوالۍ په ګینوي نري سیمه کې دیر غلګر وعسکر وپه ګزمه دوسلوال بریدپه ترڅ کې دښمن 2012-06-16 ته درونددزیان واوښت خوداوښتي زیان په اړه کره شواهدنه دي ترلاسه شوي.

ارګون کې 1 ټانګ او 3 یر غلګر له منځه لاړل

د پکتیکاولایت د ارګون ولسوالۍ په پیر کوتوسیمه کې دیر غلګر وعسکر وپه ګزمه دبرید په مهال یوزغروال ټانګ دراکټ په توسط ویجاړ ، ۳ تنه بهرني عسکر مړه اوګڼ نور ژوبل شول .2012-06-18

زیړوک کې یوتن عسکر په دراز کوف وویشتل شو

د پکتیکاولایت د زیړوک ولسوالۍ په سرومیدان سیمه کې داجیري اردو یوتن عسکر دخپلې پوستې په سرییره کوله چې دمجاهدینوله خواپه دراز کوف په نښه او وویشتل شو.2012-06-18

یحی خیل کې 4 عسکر له خپلو دندوو تبنتېدل

د پکتیکاولایت د یحی خیل ولسوالۍ په پاړوسیمه کې څلور تنوعسکر وخپلې دندې پرېښودې اوله خپلې پوستې نه 2012-06-18 وتبنتېدل. خبر کارې عسکر وڅلور میله وسله هم له ځان سره یووړه.

زیړوک کې په کمپاین بریدشوی اویوتن بهرنی عسکر په دراز کوف ویشتل شوي

د پکتیکاولایت د زیړوک ولسوالۍ کې داشغالګر وعسکر و کمپاین دهشتادوویه 4 اودهاوان په 8 مرمیو وویشتل شوچې له امله پې دښمن ته درانه تلفات واوښتل، ددښمن دتلفاتوپه اړه تر دم ګړۍ کره معلومات نشته. خبر زیاتوي مجاهدینو 2012-06-19 دیادي ولسوالۍ مرکز ته نژدې یوتن بهرنی عسکر په دراز کوف په نښه اوځای په ځای ووژه.

خیر کوټ کې د دښمن پوسته تر بریدلاندې راغله

دپکتیکاولایت د خیر کوټ ولسوالۍ په سیکاني سیمه کې ددښمن په ګزمه وسلوال بریدتر سره شو. له املـه یې 2012-06-19دپوستې ودانۍ تخریب شوې خودمر ګ ژوبلې په اړه معلومات نه دي ترلاسه شوي.

باکوخیل ولسوالۍ تربریدلاندې راغله

دپکتیکاولایت دباکوخیل ولسوالۍ په ودانۍ په داسې حال کې بریدوشوچې په ودانۍ کې دګوډاګیوعسکرو دقومندانانوغونډه روانه وه. دبریدله املـه دولسوالۍ ودانۍ زیانمنـه خودشپې دتیارې له کبلـه ددښمن دمر ګ 2012-06-20ژوبلې په اړه کره شواهدنه دي ترلاسه شوي.

دجانیخیل ولسوالۍ په هشتاددو وویشتل شوه

د پکتیاولایـت د جانیخیـل ولسـوالۍ ودانۍ دمجاهدینولـه لـوري دهشـتاددو پـه 2 مرمیودقیـق وویشـتل 2012-06-20شوه. دبریدله املـه دښمن ته زیان واوښت خوپه هکله یې کره شواهدنه دي ترلاسه شوي.

خیر کوټ کې په جلاپېښو کې 4 ټانګونه او 11 یر غلګر له منځه لاړل

دپکتیکاولایت د خیر کوټ ولسوالۍ په ګزدري سیمه کې دیر غلګروعسکروپه ګزمه د وسلوال بریدپه ترڅ کې 2 ټانګونه په هشتاددو وویشتل شول اوپه بشپړه توګه له منځه لاړل. له جګړې وروسته 2 نورزغروال ټانګونه په ماینونو والوزول شول اوپه پوره ډول ویجاړ شول. په دواړو پېښو کې ۱۱ تنـه بهرني عسکر مړه اوګڼ نورر ژوبل 2012-06-20شول.

سرحوضه کې په جلاپېښو کې 2 موټراو 12 عسکر له منځه لاړل

دپکتیکاولایـت دسرحوضـې ولسـوالۍ پـه بنـوی کمرسـیمه کـې دسـیمې دمشـهور قومندان عزیـزالله پـه موټریز کاروان وسلوال بریداو ۲چاودني وشوې ،له املـه یې ددښمن 1 رېنجرموټربشپړ ویجاړ 12 تنه عسکرمړه 2012-06-21اویو ګڼ شمېر نور ټپیان شول.

زیړوک کې داشغالګروپه کمپاین توغندي وار شول

عسکروپه کمپـاین 4 توغنـدي واراوپـه ټاکل شوي هـدف دپکتیکاولایت په زیړوک ولسوالۍ کې داشـغالګرو بنټو تلفاتوپه اړه یې تراوسه پوري کره معلومات نشته. او ولګېدل، له املـه یې دښمن ته تلفات واوښتل خود 2012-06-21

سرحوضه کې چاودني قومندان او 12 عسکروژلي

دپکتیکاولایـت د سرحوضـه ولسـوالۍ پـه مـارزکوکلي کې دګوډاګیوعسـکروپه رېنجرمـوټر دځمکنې مـاین زورورې چـاودني رینجرپـوره ویجاړاودګوډاګیوعسـکروقومندان (نورقلم)اودهغـه دورورپـه ګـډون 12 تنـه عسکرووژل2012-06-21

اومنه کې ددښمن په پوسته برید، 7 عسکرووژل

دپکتیکاولایت د اومنه ولسوالۍ په زواکې سیمه کې داجیري اردوپه پوسته وسلوال بریدتر سره شو، په ترڅ کې 2012-06-21یې دپوستې ودانۍ پوره تخریب 7 تنه داجیري اردو عسکر مړه او4 نور شدیدټپیان شول.

یحی خیل کې چاودنو4عسکر مړه اوټپیان کړل اوله یوې پوستې8عسکروتښتېدل

دپکتیکاولایت دیحی خیل ولسوالۍ په مټاخیل سیمه کې داجیري اردوپه پلي ګزمه درنه چاودنه وشوه. دچاودني له املې 1 تن عسکر ځای په ځای ووژل شواو2 نور سخت ژوبل شول. دبل خبر له مخې دمر کزاړوند دپاړو له پوستې نه 8 تنه عسکر له خپلې پوستې نه له وسلې سره وتښتېدل .له پېښې وروسته 2012-06-21دیادي پوستې په پلیوعسکر درنه چاودنه وشوه چې له املې یې یو تن عسکر ځای په ځای ووژل شو.

خیر کوټ کې ددښمن په پوسته اوګزمه برید، 4 عسکرووژل شول

دپکتیکاولایت دخیر کوټ ولسوالۍ په ظفر خیل سیمه کې دګوډاګۍ اداري دعسکروپه پوسته وسلوال بریدتر سره شو. له املې یې دپوستې ودانۍ تخریب خودمر ګ ژوبلې کړه شمېره نه ده څرګنده شوې همداراز په یاده سیمه کې دیر غلګروعسکر وموټریزه ګزمه دمجاهدینو تربریدلاندې راغله ،په ترڅ کې یې یوزغروال ټانګ 2012-06-22بشپړ ویجاړ، 4 تنه اشغالګر مړه اوګڼ نورټپیان شول.

وازه خواکې دجاسوسي اداري3کارمندانووژل شول

دپکتیکاولایت دوازه خواولسوالۍ د خدر خیل اومهمان کلاتر منځ سیمه کې دښخ کړل شوي مایین ددرنې 2012-06-22چاودني یورینجر ویجاړ ۳تنه دجاسوسي اداري کار کونکې مړه او ۴ نور ژوبل کړل .

اومنه کې 2 ټانګونه او4 یر غلګر له منځه لاړل

د پکتیکاولایت داومني ولسوالۍ اړوندپه اته خوني کلي کې داشغالګروعسکرودګزمې یوزغروال ټانګ په مایین والوزول شواوبیاپرې وسلوال بریدوشو، خبروایي په بریدکې یوبل زغروال ټانګ دراکټ په توسط ویجاړشو. په 2012-06-22دواړوپېښو کې 4 تنه بهرني عسکر مړه او3 نور شدیدټپیان شول.

وازه خواکې یوتن عسکرووژل شو

دپکتیکاولایت دوازه خواولسوالۍ دمر کزپه اړونده سیمه کې یوتن عسکر دمجاهدینوله خواپه ډزوسره ووژل 2012-06-22شو.

ګرده څېړۍ کې په ټانګ چاودني 3 عسکرووژل

دپکتیکاولایت د ګردي څېړۍ ولسوالۍ په اسماني خوله سیمه کې داشغالګروعسکروپه زغروال ټانګ ددرنې 2012-06-22چاودني له املې ټانګ پوره تخریب ۳تنه عسکر ځای په ځای مړه او۳نور یې سخت ژوبل شول.

ګومل ولسوالۍ تربریدلاندې راغله

دپکتیکاولایت دګومل ولسوالۍ په ودانۍ دمجاهدینولهلوري دسپکواودرنووسلوبریدوشو،له املهپي دښمن ته 2012-06-23دسراومال دروندزیان واوښت، ددښمن دتلفاتوپه اړه پوره معلومات نه دي ترلاسه شوي.

برمل کې ماین موټرویجاړاو7 عسکروژل

دپکتیکاولایت دبرمل ولسوالۍ په تور تنګي سیمه کې دګوډاګۍ اداړې دعسکروپه رینجر موټر دځمکني 2012-06-23ماین دچاودني له املهموټر ویجاړ، 7 تنه عسکرمړه او۳تنه نورپي سخت ژوبل شول.

زیړوک کې ددښمن پوسته تربریدلاندي راغله

دپکتیکاولایت دزیړوک ولسوالۍ په سرومیدان سیمه کې ددښمن پوسته دسپکواودرنووسلوتربریدلاندي 2012-06-23راغله، دبریدله املهدښمن ته تلفات اوښتي خوپه هکلهپي دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي.

پکتیکامرکزته نژدې ددښمن په پوسته بریدوشو

دپکتیکاولایت دمرکزښرني اړوندپه محمدخیل سیمه کې ددښمن په پوسته دوسلوال بریدلهاملهدپوستې 2012-06-24ودانۍ زیانمنه شوه خودمرګ ژوبلي په هکله کره شمېره نه ده څرګنده شوي.

زیړوک کې دیرغلګروکمپاینپه میزایلووویشتل شو

عسکروپه کمپاین6 میزایل واراوپه ټاکل شوي هدف دپکتیکاولایت په زیړوک ولسوالۍ کې داشغالګرو 2012-06-25 . ولګېدل خوله املهپي دښمن ته داوښتي زیان په هکله شواهدنه دي ترلاسه شوي

برمل کې داشغالګروپه 2 کمپاینونوتوغندي وارشول

دپکتیکاولایت په برمل ولسوالۍ کې دمرغي په امریکایي کمپاین4 توغندي او دلوړي په سیمه کې داشغالګروپه کمپاین6 توغندي وارشول توغندي ټول په ټاکلي هدف ولګېدل خو دښمن ته داوښتي زیان په اړه کره شواهدنه دي ترلاسه شوي.2012-06-25

زیړوک کې ددښمن په پوسته بریدوشو

دپکتیکاولایت دزیړوک ولسوالۍ دسرومیدان په سیمه کې دښمن پوسته دمجاهدینوتربریدلاندي راغله، 2012-06-25دبریدله املهدښمن ته داوښتي زیان په اړه کره شواهدنه دي ترلاسه شوي.

سرحوضه کې له دښمن سره نښته وشوه اوچاودني6 عسکروژل

حوضې کلیوترمنځ له ګوډاګیوعسکروسره نښته وشوه،په دپکتیکاولایت دسرحوضې ولسوالۍ دمارزګواوسر نښته کې دښمن ته داوښتي مرګ ژوبلي کره شمېره نه ده څرګنده شوي. بل خبروایي دیادي ولسوالۍ په شا کلي کې داجیري اردو رېنجر موټرپه2 ماینونو واولوزول شو.له املهپي موټر بشپړ ویجاړ اوپکې سپاره تورو عسکر6 تنه مړه او3 نور سخت ژوبل شول،2012-06-26

ګومل کې ماین موټرویجاړاو5 عسکروژل

دپکتیکاولایت د ګومل ولسوالۍ مرکز ته نژدې داجیري اردوپه رېنجر موټر دبمب کړل شوي مایین چاودني 2012-06-27 تخریب،۵تنه عسکر مړه او۳نور ژوبل کړل رینجر

زیړوک کې داشغالګروپه کمپاین میزایل وارشول

د پکتیاولایت دزیړوک ولسوالۍ په مرکزي کمپاین 4 میزایل وتوغول شول. توغندی په ټاکلي هدف ولګېدل 2012-06-28 خوله امله یې دبمن ته داوښتو تلفاتوپه اړه معلومات نه دي ترلاسه شوي.

په سروبي ولسوالۍ، دیر غلګروپه کمپاین اوپوسته بریدونه وشول

دپکتیاولایت د سروبي ولسوالۍ په ودانۍ، دیر غلګروپه کمپاین اوپوسته ددرنو وسلوبرید ترسره شو، په برید کې دیادي ولسوالۍ په ودانۍ 5 میزایل اودنوي کلاپه سیمه کې دیر غلګروعسکروپه کمپاین 8 میزایل وتوغول شول، میزایل ټول په ټاکل شوي هدف ولګیدل خبروایي همداډول په زامي سیمه کې ددبمن پوسته دبریدونوله امله دبمن ته دسراومال درانه تلفات اوښتي خوپه اړه یې دهشتاددو په 8 مرمیودقیق وویشتل شوه 2012-06-28 کره شواهدنه دي ترلاسه شوي.

یحی خیل کې 3 عسکروته مرګ ژوبله واوښته

دپکتیکاولایت د یحی خیل ولسوالۍ په غازي خیل سیمه کې د ګوډاګیوعسکروپه ګزمه دوسلوال بریدپه مهال 22012-06-29 تنوعسکروخپل ژوندله لاسه ورکړاو1 بل سخت ټپي شو.

اورګون کې چاودني دیر غلګرو دقومندان په ګډون 5 عسکرووژل

دپکتیکاولایت د اورګون ولسوالۍ په داني سیمه کې دیر غلګروعسکروپه یوزغروال ټانګ دځمکني مایین 2012-06-30 چاودني ټانګ بشپړ تخریب اودقومندان په شمول 5 تنه یرغلګرعسکرووژل

تروه کې 5 پولیسوته مرګ ژوبله واوښته

د پکتیکاولایت په تروه ولسوالۍ کې دسرحدي پولیسوپه پوسته اوګزمه وسلوال بریدترسره شو، په ترڅ کې 2012-06-30 یې دپوستې ودانۍ اویورېنجر موټر تخریب، 3 تنه پولیس مړه 2 نور شدیدټپیان شول.

سرحوضه کې 4اشغالګروخپل ژوندله لاسه ورکړ

دپکتیکاولایت د سرحوضې ولسوالۍ په سندرخیل کلي داشغالګروعسکروپه زغروال ټانګ دځمکني مایین 2012-06-30 چاودنه وشوه، له امله یې ټانګ پوره ویجاړ او څلور تنه اشغالګرعسکرووژل شول.

یوسف خیل کې 1 موټراو3 عسکرله منځه لاړل

دپکتیکاولایت دیوسف خیل ولسوالۍ په خیرالدین کلي کې داجیری اردوپه عسکرودوسلوال بریدپه مهال 1 2012-06-30 رېنجر موټر تخریب، 3 تنه عسکر مړه او2 نور شدیدټپیان شول.

تروه‌ولسوالۍ‌اودیرغلګرومرکزتربریدلاندې‌راغلل

د پکتیکاولایت دتروپ ولسوالۍ پـه ودانۍ اوپـه خواکې يې دير غلګر وعسکروپه مرکزوسلوال بريـد چې لـه هفتادپنج، هشتاددو او بم يک څخه پکې کارواخيستل شوترسره شو، دبريدلـه املـه پـه يـادو ودانيوکې اوربـل -2012شواوزياتي برخې يې له منځه ولاړې په بريد کې ددښمن دمرګ ژوبلې کره شميره نه ده ترلاسه شوې.
06-30

خـــوســـت

د صحرا باغ په هوايي اډه استشهادي عمليات

دخوست ولايت دمرکزاړوندپـه صحرا باغ هوايي ډګر کې پـه ميشـتوامريکايي عسکروداسلامي امـارت ديولس تنواستشهادي مجاهدينو(هريو شمس الله اوعظيم خان دپکتيـا، محمـدنعيم، عتيـق الله، محمـديعقوب ابراهيمې اوکـريم الله دغزنـي دګيلان، ذبـيح الله شبير دمقر، حـافظ سيف الله دپکتيکادخوشـامندواوامدادالله دوازيخـوا، عبـدالله دننګرهار اوعبـدالرحمن دلوګر اوسيـدونکي)لـه خوابريـالي استشهادي عمليـات ترسره شول ،لـومړی انفجار داتل فدايي شمس الله له خوادپولارې موټرپـه توسط چې 10 ټنـه چاودېـدونکي موادپکې ځـای پـه ځـای شوي وو، په امريکايي مرکز کې په دووهوټلونوباندي پـه داسي حـال کې ترسره شوچې لسګونه عسکرپکې پـه ډوډۍ خوړلوبوخت وو، له املـه يې يادخوړ نځايونه اوهغوی ته څېرمه دوزرش کلب ويجاړ، اولسګونه امريکايي عسکر قتل او ټپيـان شول. له چاودنې سره سم لس تنه استشهادي مجاهدين يادي اډې ته داخل شول اوله بهرنيو عسکرو سره يې لاس په لاس درنې جګړې ته دوام ورکړ، په دغه بريدونو کې هم ګڼ تعداد امريکايي عسکر مړه اوژوبـل شول. داستشـهادي عمليـاتو پـه تـرخ کې يوموټرسـايکل داډې دلـويي دروازې مـخ تـه پـه هغـو افغـان اجيرانوانفجار کړل شوچې په ميدان کې يې دبهرنيو ځواکونو سره کارکاوه اوله املـه يې تر شـلو زيـات کورنې اجيران مړه او170 خارجي اوداخلي نظامي موټرسايکل په مکمل ډول وسوځېدل. ديادوني وړ ده چې عملياتوپه داسې حال کې دوام درلودچې له بهر څخه هم هوايي ډګر دمجاهدينولخوا تر توغندويي بريدونو لاندې نيول شوي وو. پـه دغـه ځوساعته تـوده جګړه کې ددښمن يـوه لويـه نظامي الوتکـه او دوه چورلکي، ګڼ پـوځي عرادجـات اودتيلو ذخيرې داور خوراک شول، دبريدونو په مهال امريکايي قـواوې ونه توانيـدې چې لـه يـاد هوايي ډګر نـه الوتکې پور ته کړای شي هغوامبولانس هليکوپترو چې امريکايي مړي او ټپيـان پې ليږدول هم له ميدان څخه بنه لرې ناسته کوله اوهلته مړي او ټپيان ورته رسول کيدل، دجګړې ترپايـه دغو امبولانس هليکوپترواتلس ځـله پيرې ووهلې چې پخپله ددرنو تلفاتو ښودنه کوي.2012-06-02

علي شيرو کې دپوليسوپوسته تربريدلاندې راغله

دخوست ولایت دعلي شیرووللسوالۍ په تیزیوسیمه کې دپولیسوپه پوسته دوسلوال دبریدپه ترڅ کې دښمن ته درنه مرګ ژوبله اومالي زیان واوښت خوپه هکله یې کره شواهدنه دي ترلاسه شوي.2012-06-01

خوست مرکزته نژدې ماین 2 عسکرووژل

د خوست ولایت دمرکزاړوندپه ارنیخیل سیمه کې د داخلي سپیشل فورس عسکروپه پلي ګزمه درنه چاودنه 02-06- وشوه، له املې یې 2 تنه عسکر ځای په ځای ووژل شول اوګڼ نور ټپیان شول.2012

علي شیروکې په پوسته دنارنجکوبریدوشو

د خوست ولایت د علي شیرولسوالۍ دمرکزپه اړونده سیمه کې دښمن پوسته په ۱۷نارنجکو وویشتل شوه، دبریدله املې دښمن ته داوښتو تلفاتوپه اړه دقیق معلومات نشته. 2012-06-02

شیخ امیرکې جلاچاودنو1 ټانګ او4عسکرله منځه یوړل

د خوست ولایت د شیخ امیرولسوالۍ په وړوکلي کې دګودامګۍ اداري دپولیسوپه ګزمه درنه چاودنه وشوه،چاودني ۲تنه پولیس ځای په ځای ووژل .همدارازتردې وړاندي دیادي ولسوالۍ په بوریخیل سیمه کې دیرغلګروعسکرویوزغروال ټانګ دځمکني ماین دچاودني له املې ویجاړاوپکې سپاره ۲تنه عسکرر مړه او۲نور سخت ژوبل شول.2012-06-03

نادرشاه کوټ کې ماین د 2 پولیسوژوندواخیست

د خوست ولایت د نادرشاه کوټ ولسوالۍ په شمباوټ سیمه کې دپولیسورېنجرموټرپه ماین والوزول شو ، دچاودني له املې په موټر کې 2 تنه پولیس ځای په ځای مړه اودجاسوسي اداري دیوتن کارمندپه ګډون 3 تنه نورشدیدټپیان شول.2012-06-04

صبریوکې داشغالګروکمپاین په هشتاددوووویشتل شو

د خوست ولایت په صبریو ولسوالۍ کې داشغالګروعسکرو کمپاین دهشتاددو4 مرمۍ وارشوې چې له املې یې دښمن ته تلفات واوښتل خوپه اړه یې دقیق معلومات ترلاسه نه شول. 2012-06-06

صفیرولسوالۍ تربریدلاندي راغله

دخوست ولایت دصفیرولسوالۍ په ودانۍ دوسلوال بریدله املې یاده ودانۍ زیانمنه شوه خوپکې میشتو عسکروته داوښتي مرګ ژوبلې په هکله کره شواهدنه دي ترلاسه شوي. 2012-06-06

صبریوکې 1 ټانګ او2 عسکرله منځه لاړل

